د ماشومانو ګل غونچه

محمد رفیع

د ماشومانو گل غونچه

محمد رفیع

۱۳۸۰هـ.ش / ۲۰۰۱م

کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : د ماشومانو گل غونچه

لیکوال : محمد رفیع

خپروونکی : د اریک د گرځنده کتابتونونو اداره

پرله پسې نومره : ۸۸

لومړی چاپ : ۱۳۸۰هـ.ش کال، د خپروونکي له خوا، پیښور

چاپ شمیر : ۵۰۰ توکه

دمخونو شمیر : ۱۰۲

کچه : ۱۳,۵ × ۲۱ سانتی متره

د خپروونکي پته : دویم کور، رحمان بابا روډ،
پوسټ بکس: ۱۰۸٤، هونیورستي ټاون - پیښور
تیلفون: ٤٥٣١٦-٤٤٣٩٢-٤٥٣٤٧
فکس: ۹۱-۸٤۰٤۷۱.
الکټرونیکي پوسټ: aric@brain.net.pk

کمپوز او چاپ : احمد پرنټنګ پریس، تیلیفون ۲۱۵۵٤۰

دویش او پلورنې ځای: داکبر دفتر (دافغانانو له پاره د مرستو دانسجام اداره)

د کتاب له مطالبو څخه اقتباس د مأخذ په ښودلو سره جایز دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

د اکبر د اطلاعاتی او نشراتي منابعو مرکز (اریک) له څلورو کالو راهیسې د افغانستان ولایتونو ته د ګرځنده کتابتونونو پروګرام تر لاس لاندې نیولي دي. ګرځنده کتابتونونه چې د فلزي صندوقونو په بڼه جوړ شوي دي، په یو خاص ځای کې ایښودل کیږي. د سیمې خلک ورځخه امانت کتابونه وړي، لولي یې او خپلو شاوخوا خلکو ته یې هم اوروي. کله چې په سیمه کې د کتابتون ټول کتابونه ولوستل شول، کتابتون بلې سیمې ته لیږدول کیږي او یا پرې یوشمیر نور نوي کتابونه ورزیات او هماغه ځای کې پاتې کیږي.

مونږ دا هڅه کړې ده چې د ګرځنده کتابتونونو له پاره داسې کتابونه راټول کړو چې دلیکنې ژبه یې ساده او د خلکو د اړتیاوړ مطالب ولري، تر څو چې په ورځني ژوند کې له هغوی سره په دیني، ټولنیزو، اقتصادي، ښوونیزو، روزنیزو، روغتیایي، تاریخي، فني، مسلکي او... مسایلو کې مرسته وکړي.

مونږ د ګرځنده کتابتونو تر څنګ دا سروې هم ترسره کوو چې خلک څه ډول آثارو او موادو ته اړتیا لري او د کومو موضوعاتو او مطالبو د مطالعې هیله من دي. مونږ لومړی هڅه کوو چې غوښتل شوي کتابونه له بیلا بیلو منابعو (کتاب پلورنځیو او خپرونیزو مرکزونو) څخه برابر او راونیسو. په نومورو مراجعو کې د مطالبو او موادو د نشتوالي په صورت کې اریک هڅه کوي چې د اړتیاوړ آثارو په تألیف، ترجمه او چاپ سره دغه تشه ډکه کړي.

ددغه موخې او هدف د تحقق او په عمل کې پلي کولو په منظور درې کاله

لومړی

دمخه د لوستونکو د علاقې وړ کتابونو د چاپ او خپراوي کار پیل شو اوله هغه وخت راهیسې تراوسه پورې داریک ګړنده کتابتونونو اداري د محترمو همکارو مؤسسو په مرسته په دغه برخه کې پیاوړي ګامونه اخیستي او ګټور فعالیتونه یې ترسره کړي دي.

د ښه او سیستماتیک کار له پاره د اریک د اداري استازیو او یوشمیر څېړونکو او لیکوالو یو ګډ هیأت وټاکل شو چې د مطلوبو کتابونو د پلان کولو، آماده کولو او چاپ کولو پراوونه چې د تکړه او مسلکي لیکوالو له خوا تألیف کیږي، په ګډه پر مخ بوځي.

دغه هیأت د افغانانو د صمیمي همکارې میرمن نانسي هـــچ دوپري، سید محی الدین هاشمي، خواجه غلام جیلاني شبل، محمد شکیب افضلي او محمد رفیع څخه تشکیل شوی دی.

مونږ له خپلو ټولو درنو لوستونکو څخه چې د هیواد په بیلا بیلو ښارونو او کلیوالو سیمو کې زمونږ له کتابتونونو څخه ګټه اخلي، هیله لرو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولیږي او د هیواد له لیکوالو او پوهانو څخه غواړو چې له مونږ سره په دې لاره کې مرستندوی شي، چې وکړای شو خپلو خلکو ته لا ښه او ګټور کتابونه وړاندې کړو.

په درنښت

د اریک د ګړنده کتابتونونو اداره

فهرست

عنوان ——— مخ

سریزه ۱

افغانستان زمور هیواد ۵

کیسې ۱٤

نوم بدی ملګری، میړی او سره مچې، او سپنه
خوړونکی موږک، نیا.

ترانې او شعرونه ٤۲

د پوهنې ترانه، سوله او ژوند، د خدای نعمتونه،
زه چې کله ځوان شمه، پاکوالی، الله دي پیدا
کړي، لوبې.

متلونه ۵۵

متلونه څه ته وایي؟

کیسې (اړونه - چیستانونه) ۷۰

کیسې څه ته وایي؟

غوره بوختیاوې (سرګرمۍ) ۷٦

رسمونه د کلمو په ځای، نقطې او رسمونه، څه
شی له څه شي سره اړیکې لري؟ د رسمونو
اندازه، نوم لیکل، د متقاطع کلمو جدول.

مأخذونه ۹۵

سریزه

ادبپوهان ادبیاتو ته له دې املې د ټولنیز ژوند هنداره وایي، چې پکې د انساني ژوند او ټولنې بیلا بیل اړخونه منعکس کیږي. د ادب یوه ډیره ساده او عامه پیژندنه دا ده چې: د یوې ژبې غوره او ممتازه وینا، شفاهي وي که تحریري، نظم وي که نثر، خو چې هنري ارزښت ولري، ادب بلل کیږي.

ماشومان او نوي ځوانان د ټولنې د وګړنیز (افرادي) ځواک د یوې ستري برخې په توګه خپل ځانګړي ادبیات لري چې پکې د دوی احساسات، عواطف، هیلې او غوښتنې په یوه یا بله بڼه بریښي.

د ماشومانو ادبیات هم لومړی په نظم او نثر او بیا په دوو سترو برخو ویشل کیږي، چې یوې ته یې اولسي (شفاهي یا فولکلوري) ادبیات او بلې ته لیکلي (تحریري) ادبیات وایي.

اولسي (فولکلوري یا شفاهي) ادبیات هغه دي چې رامینځ ته کوونکي او ویناوال یې نه دي معلوم، د ټولنې ګډ مال ګڼل کیږي، لکه د ماشومانو فولکلوري سندري (شعرونه او ترانې) کیسې، چیستانونه (اړونه) ټوکې- ټکالې (لطیفې) او نور چې دوی یې پخپل مینځ کې وایي او یا یې لویان دوی ته د غوره بوختیا (سرګرمۍ) او ساعت تیرۍ له پاره وایي. او لیکلي ادبیات بیا هغه دي چې نور یې د ماشومانو او نویو ځوانانو له پاره لیکي چې له اوریدلو یا لوستلو یې خوند او پند واخلي. په دې برخه کې په عامه توګه د ماشومانو له پاره لیکلې کیسې، ډرامې، د شعرونو بیلا بیل ډولونه او نور راځي، چې لیکوال یا شاعر یې د ځینو ځانګړو هدفونو له مخې رامینځته کوي.

د یادونې وړ ده چې د هر ډول ادبي اثر په رامینځته کولو کې د ادیب خپل ځانګړي او ټولنیز اهداف نغښتي وي. پخوا به ادبیات د ځینو خلکو په نظر یو ډول داسې بې هدفه وینا ګڼل کیده چې یوازې انسان ته یې روحي خوښي، خوند او تسکین ورباخښه او د دوی په فکر ادب یوازې او یوازې د ساعت تیرۍ یوه وسیله وه. خو اوس ادبپوهان دا

نظریّه په کلکه ردوي او وایي چې ادب د ښکلاییز، روحي لذت او تسکین ترڅنګ د ټولنیزې (اجتماعي) او اخلاقي روزنې، اصلاح، سمون او د ذهنونو د روښانولو دنده هم په غاړه لري او په هر ادبي اثر کې خامخا یو لوی هدف نغښتی وي.

همدې ټکي ته په پاملرنه ویلای شو چې د هرې ژبې ادیبان (شاعران او لیکوالان) د ماشومانو او نویو ځوانانو د ادبیاتو په رامینځ ته کولو کې هم ځانګړې هدفونه لري او هغه خامخا پخپلو آثارو کې تعقیبوي، چې ځینې یې دلته په لنډو ټکیو کې را اخلو:

- د ژوند د چاپیریال (کور- کوڅه- ښوونځی) پیژندنه.
- د ټولنې او په هغې پورې د یو لړ اړوندو ارزښتونو پیژندنه.
- په ماشومانو یا نویو ځوانانو کې د ښکلا پیژندنې د احساس او ادراک رامینځته کول او هغې ته وده ورکول.
- له لوستلو، زده کړې، مطالعې او لیکنې سره د هغوی مینه او علاقه پیدا کول.
- د راتلونکي ژوند له پاره هغوی ته د چمتووالي پوهه او معلومات ورکول او داسې نور.

د ماشومانو او نویو ځوانانو له پاره د منظومو یا منثورو آثارو رامینځته کولو او خپرولو ته په هره ټولنه کې ډیر بنسټیزه اړتیا لیدل کیږي. دا کار یو لړ تاکلي او منلي معیارونه او ځانګړنې هم لري، او د دغه ډول آثارو رامینځ ته کوونکي اړ دي چې هغه د خپلو ادبي آثارو د تخلیق پر وخت په پام کې ونیسي.

د غه ځانګړنې او معیارونه د یو ادبي اثر د بڼې (شکل) او محتوا (مضمون) له مخې بیل بیل دي چې دلته یې په ډیر لنډون سره د ځینو یادونه کوو:

د بڼې او شکل له مخې باید د دې ډول ادبي آثارو د لیکلو سبک ساده او روان وي، لیکنې ژبه یې باید د ماشومانو او نویو ځوانانو له ژبې سره برابري او هماهنګي ولري، جملې او عبارتونه یې باید لنډ او مفاهیم یې هیڅ ډول ابهام او پیچلتیا ونه لري، پیغامونه او پایلې یې باید څرګندې وي، چې ماشوم یا نوی ځوان په آسانۍ سره وکړای

شي چې د پېښو او د هغو د نتايجو ترمينځ اړيکې ټينګې کړي. هرځومره چې دغه ډول کتاب په انځورونو او عکسونو ښکلی شي، زياته اغيزه لري او همدغسې د کتاب کاغذ، صحافت، د ليک د تورو شکلي ښکلا او ځلاهر يو پخپل ځای ارزښت لري.

د محتوا او مضمون له مخې دې هڅه وشي چې د دغه ډول ادبي کتابونو مضامين يا موضوعات د ماشومانو او نويو ځوانانو د عمر او سن له اړتياوو او غوښتنو سره سمون ولري. ددې ډول آثارو موضوعات بايد د داسې ټولنيزو واقعيتونو پر بنسټ ولاړ وي چې هغوی يې په طبيعي او عيني توګه ذهناً ومنلی شي او په زور پرې تحميل نه کړای شي. دغه موضوعات بايد په ماشومانو او نويو ځوانانو کې د انسان دوستۍ زړورتيا، رښتينولی، خير ښيګڼې او پر ځان د باور روحيه پياوړې کړای شي او له دروغو، بدبينۍ، غرور، پوچې او ستوغې وينا او هر ډول ناوړه اخلاقو څخه يې راوګرځوي، له دوی سره بايد د ځان او جهان په پېژندنه کې په زړه پورې مرسته وکړای شي، د هنر، ښکلا پېژندنې او خوښونې ذوق يې پياوړې او د پوهې يا معلوماتو ترلاسه کولو ته يې ډير مينه وال او ليوال کړي.

د اړيک د ګرځنده کتابتونونو اداري د خپل کتاب خپرونې پروګرام په لړ کې د ماشومانو او نويو ځوانانو له پاره په پښتو او دري ژبو د ځانګړو تفريحي، ادبي معلوماتي کتابونو د تهيه کولو او ليکلو تکل کړی و. د اډيټوري بورډ په غونډه کې يې د پريکړې له مخې د پښتو کتاب ليکلو له پاره پر ماغږ وکړ چې د «ماشومانو گل غونچه» تر سرليک لاندې يې ليکنه بشپړه کړم. ما د خپلو ډيرو اداري او نورو خپرونيزو بوختياوو سره سره د اډيټوري بورډ له پريکړې څخه غاړه ونه غړوله او هغه مې په وړين تندي ومنله. د ټاکليو مفرداتو له مخې مې دا کار پيل او دا دی په بري سره مې ترسره کړ.

په دې کتاب کې راغلي موضوعات په شپږو برخو کې ليکل شوی او تهيه شوي دي:

په لومړۍ برخه کې د هيواد پېژندنې تر سرليک لاندې ماشومانو او نويو ځوانانو ته د خپل ګران هيواد افغانستان په هکله په زړه پورې معلومات وړاندې کيږي

او په دوی کې د هیواد پالنې روحیه روزي او پیاوړې کوي یې.

په دویمه برخه کې یو شمیر کیسې او د هرې کیسې په پای کې د هغې ډیره لنډه نتیجه راغلې چې د پند او خوند دواړه خواوې لري. ورپسې یو شمیر ترانې او شعرونه دي او بیا په ترتیب سره متلونه او د هغو لنډو مفهوم، مقصد او تر هغه وروسته کیسې یا اړونه (چیستانونه) او د هغو حل (ځوابونه) او په پای کې د غوره بوختیاوې (سرګرمۍ) تر سر لیک لاندې لومړۍ د رسمونو او کلمو په مرسته یو ډول مفاهیم وړاندې کیږي چې ماشومانو او نویو ځوانانو ته پر ساعت تیرۍ او بوختیا برسیره ښوونیزه او روزنیزه موخه او هدف هم لري او د همدې برخې په آخر کې هغوی ته د متقاطع کلمات و جدول او د هغه د حل لارو په باب ضروري معلومات او بیلګې وړاندې شوې دي.

د یادونې وړ به لم چې د ټاکلې پروګرام سره سم د کتاب لومړۍ برخه (هیواد پیژندنه) او وروستۍ برخه بوختیاوې (سرګرمۍ) د دوه کیسو (نیا، میړي او سره مچۍ) په شمول له دري کتاب «ګلدسته ء اطفال» څخه راژباړل شوې دي.

په پای کې د اریک د ګرځنده کتابتونونو د اډیټوري بورډ له غړیو څخه، چې ماته یې د دې کتاب د لیکلو لارې چارې برابرې کړې، د استفادې له پاره یې کتابونه راکړې، د لیکنې پر وخت یې غوره او رغنده مشورې راکړې، د متن په ایډیټ او سمون کې یې راسره مرسته کړې او کتاب یې د چاپ او خپریدو جوګه کړی دی، د زړه له کومې مننه کوم او کورودانی ورته وایم. خدای (ج) دې وکړي چې زما دا کړې خواري ګرانو ماشومانو او نویو ځوانانو ته، چې زمور د هیواد او ټولنې راتلونکي نیکمرغي په دوی پورې اړه لري، په ښه ورشي او له لوستلو څخه یې خوند او پند واخلي، په همدې هیله.

محمد رفیع

پیښور، د اکتوبر شلمه، ۲۰۰۱ میلادي کال.

افغانستان زمور هیواد

هیواد پیژندنه او له هیواد سره مینه

رحیم او هوسی د جمعې په ورځ د خپل کاکا کورته تللي وو. د غرمې د ډوډۍ له خوړلو او ماسپښین د لمانځه له اداء کولو وروسته، چې چا د یو څه او چاد بل څه په هکله خبرې کولې، کاکا یې، چې ډېر پوه او هوښیار سړی و، وویل:

« رائئ چې له وخت نه سمه ګټه واخلو، هر څوک چې پر څه نه پوهیږي، پوښتنه دې وکړي او نور که د هغې په باب معلومات لري، ځواب دې ووایي ».

د کاکا داخبره د ټولو خوښه شوه او ځان یې دې ته چمتو کړ چې یو له بل څخه پوښتنه وکړي.

د کاکا زوی ناصر پوښتنه وکړه: پلار جانه! زمور هیواد ښه ځای دی؟ که مور ته د هغې په باب معلومات راکړې ښه به وي. »

پلار یې په ډیرې مهربانۍ وویل: «ډیره ښه ده، خوزده له

تاسو ټولو څخه یوه هیله کوم او هغه دا چې راځئ نن مور او تاسې ترپایه ټولې پوښتنې له یو بل څخه د خپل هیواد په هکله وکړو.» نجونو او هلکانو یې خبره ومنله او هغه خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ:

«زمور هیواد افغانستان نومیږي او پلازمینه (پایتخت) یې د کابل ښار دی.

افغانستان ډیر ښکلی غرنی هیواد دی چې ډیرې ښایسته او په زړه پورې طبیعي منظرې لري. د آسیا د لویې وچې (براعظم) په زړه کې پروت، سمندر (بحر) ته لارنه لري او د مرکزي آسیا له هیواد ونو څخه ګڼل کیږي.

بچیانو! آب وهوا یې (اقلیم) په بیلا بیلو سیمو کې فرق کوي. په زیاترو سیمو کې یې د کال څلور فصلونه په ډیر ښه ډول لیدل کیږي، یعنې پسرلی او منی یې معتدل، اوړی یې تود او سوړ ژمې لري. په ځینو ځایونو کې یې بیا د اوړي هوا ډیره تودې او ژمی معتدل وي. هغه سیمې چې تود اوړي لري «ګرمسیر» (تودې سیمې) او هغه چې ډیر سوړ ژمی لري د «سرد سیر» (سړې سیمې) په نامه یادیږي.»

رحیم پوښتنه وکړه: کاکا جانه زمږ هیواد کوچنی دی که لوی؟

کاکا ځواب ورکړ: «زمږ هیواد (افغانستان) ۶۵۲،۲۲۵ کیلو متره مربع مساحت لري. په دې ترتیب زمږ هیواد په مجموع کې له المان، فرانسې او انګلستان څخه لوی دی، د جاپان دوه برابره مساحت لري او د پراخوالي له نظره په آسیا يې هیواد ونو کې په لسمه درجه کې راځي.»

هوسې پوښتنه وکړه: کاکا جانه! آیا زمږ هیواد له پخوانه همداسې و او په همدې نوم یاد یده؟

کاکا یې په ځواب کې وویل: «لوري! زمږ هیواد (افغانستان) پنځه زره کلن تاریخ لري، خو همیشه په دې نوم نه دی یا دشوی. په زرګونو کاله پخوا زمږ هیواد د «آریانا» په نوم یاد یده، بیا وروسته يې نوم «باختر» او ورپسې د «خراسان» په نوم یادشو، تقریباً دوه نیم سوه کاله پخوا د احمد شاه بابا د پاچاهۍ په زمانه کې ورباندې «افغانستان» نوم کیښودل شو، چې ترننه پورې په همدې نوم یاد یږي.»

رحیم پوښتنه وکړه: کاکا تاسو وویل چې زمږ هیواد افغانستان یو غرنی هیواد دی، مشهور غرونه يې کوم دي؟

کاکا یې په ځواب کې وویل: «زمور د هیواد مشهور غرونه: هندوکش، تورغر، بابا غر، سپین غر، سلیمان غر، تیربند ترکستان غر، دواخان د غرونو او د پامیر د غرونو سلسلې دي.»

ناصر وویل: زمور هیواد چې دومره ډیر غرونه لري، آیا سیندونه هم پکې ډیر دي؟

پلار یې وویل: «هو، زویه! په افغانستان کې ډیر سیندونه هم شته چې ځینې مشهور یې دادي: د آمو یا اکسوس سیند، کابل سیند، هریرود سیند، مرغاب سیند، پنجشیر سیند، هلمند سیند، کونړ سیند، خاشرود سیند، فراه رود، ادرسکن او د غزني سیندونه.

همدارنګه د افغانستان په غرونو کې یو شمیر جهیلونه یا داوبو ډنډونه هم شته چې د هغو له جملې څخه کولی شو له ایران سره په ګاونډ د نیمروز په ولایت کې د هلمند هامون، هامون صابري د سیستان په حوزه کې، په فراه او نیمروز کې هامون پوزه، په بامیان کې بند امیر او په پامیر کې د زرقول جهیل چې دویکتوریا په نوم هم یادیږي، په کوچني پامیر کې د چقمقتین جهیل او په بدخشان کې د نیوا جهیل نومونه واخلو.»

هوسی وویل: «کاکا جانه! تاسو وویل چې زمونږ هیواد د آسیا د لویې وچې په مرکز کې پروت دی، خو زمونږ د هیواد ګاونډي ملکونه مو ونه ښودل چې کوم کوم دي؟

کاکا ویل: «د کاکا د زړه سرونو! له دې څخه معلومیږي چې تاسې د خپل وطن په هکله له دې پوښتنو او ځوابونو سره ډیره مینه لرئ، راته خوښ شئ چې زمونږ د هیواد ګاونډي هیوادونه هم درته درونبیم: افغانستان په شمال کې له دریوو مسلمانو هیوادونو سره چې پخوا د روسانو تر سلطې او واک لاندې وو او اوس نوي خپلواک شوي دي، ګډ پوله او سرحد لري او هغه دادي:

لومړی: تاجکستان چې پایتخت یې «دوشنبه» ښاردی.

دویم: ازبکستان چې مرکز یې د «تاشکند» ښار دی او دریم: ترکمنستان چې پایتخت یې «عشق آباد» نومیږي.

زمونږ د هیواد په جنوب او ختیځ خوا کې د پاکستان اسلامی هیواد پروت دی، چې مرکز یې د «اسلام آباد» ښاردی.

زمونږ لویدیځ (غربي) ګاونډی هیواد د ایران اسلامي جمهوریت دی چې مرکز یې د تهران ښاردی.

د افغانستان په شمال ختیځه خوا کې یوبل ګاونډی هیواد هم شته چې لږ د پوله ورسره لري ، هغه د چین اولسي جمهوریت نومیږي او پایتخت یې د « پیکنګ » ښار دی. »

هوسی پوښتنه وکړه: دافغانستان نفوس څوتنه دی؟

کاکا یې وویل: « که څه هم دا ډیر کلونه کیږي چې د افغانستان د نفوسو شمیرنه ، نه ده شوې ، زمور د هیواد ډیر اوسیدونکي د جنګ- جګړو له امله له خپل هیواد څخه مهاجر شوي او د نړۍ ګوټ ګوټ ته کوچیدلي دي. نو په دغسې حالاتو کې د نفوسو د شمیر معلومول ډېر ګران کار دی. له نن څخه تقریباً ۲۳ کاله پخوا (۱۳۵۷ هـ ش کال) د افغانستان د نفوسو شمیر د ۱۶ میلیونو په شاوخوا کې ښودل شوی دی. وایي چې هر کال په سلو کې ۳ ، ۲ نفوس زیاتیږي ، په دغه حساب سره ویلی شو چې اوس به زمور د هیواد نفوس لږ و ډیر ۲۳ میلیونو تنو ته رسیدلی وي. خو باید ووایو چې دغه شمېر کوم رسمي اعتبار نه لري ، هسې اټکلي خبره ده. »

په آخر کې رحیم پوښتنه وکړه: زمور هیواد (افغانستان) څو ولایتونه لري او نومونه یې څه دي؟

کاکا چې په خبرو ستړی شوی و ، ویې ویل: « بچیانو! نن تاسې د خپل هیواد په هکله ښه پوره معلومات تر لاسه کړل ، نورې

پوښتنې دې بلې ورځې ته پاتې وي، اوس نو د مازیګر د لمانځه وخت دی، تاسو د خپل کاکا له زوی ناصر جان څخه یوه یوه پاڼه کاغذ او قلم واخلئ. زه به او دس تازه کړم او بیا به تاسې ته دولایتونو نومونه او د هغو مرکزونه ووایم، تاسې به هغه ولیکئ، له ځان سره به یې ساتئ او لولئ به یې چې له یاده مو نه وځي. »

کله چې کاغذ او قلم برابر شول، کاکا له او داسه نه راغی، دوی ته یې د افغانستان دولایتونو نومونه د الفبا د تورو په ترتیب په لاندې ډول معرفي او ماشومانو هغه ولیکل:

۱- کابل ولایت	مرکزیې د کابل ښار
۲- ارزګان ولایت	مرکزیې ترینکوټ ښار
۳- بادغیس ولایت	مرکز یې قلعهء نو ښار
٤- بامیان ولایت	مرکز یې بامیان ښار
٥- بدخشان ولایت	مرکز فیض آباد ښار
٦- بغلان ولایت	مرکز یې پلخمري ښار
۷- بلخ ولایت	مرکز یې مزار شریف ښار
۸- پروان ولایت	مرکز یې چاریکار ښار
۹- پکتیا ولایت	مرکز یې گردیز ښار
۱۰- پکتیکا ولایت	مرکز یې ښرنه ښار

۱۱- تخار ولایت	مرکز یې تالقان ښار
۱۲- جوزجان ولایت	مرکز یې شبرغان ښار
۱۳- زابل ولایت	مرکز یې قلات ښار
۱٤- سمنگان ولایت	مرکز یې ایبک ښار
۱۵- غور ولایت	مرکزیې چغچران ښار
۱٦- غزنی ولایت	مرکز یې غزنی ښار
۱۷ فاریاب ولایت	مرکزیې میمنه ښار
۱۸- فراه ولایت	مرکز یې فراه ښار
۱۹- کاپیسا ولایت	مرکز یې محمود راقی ښار
۲۰- کندهار ولایت	مرکزیې د کندهار ښار
۲۱- کندز ولایت	مرکز یې کندز ښار
۲۲- کنړونه ولایت	مرکز یې اسعد آباد ښار
۲۳- لغمان ولایت	مرکز یې مهتر لام ښار
۲٤- لوګر ولایت	مرکز یې پل علم ښار
۲۵- ننګرهار ولایت	مرکزیې جلال آباد ښار
۲٦- نیمروز ولایت	مرکزیې زرنج ښار
۲۷- وردک ولایت	مرکز یې د میدان ښار
۲۸-هرات ولایت	مرکز یې د هرات ښار
۲۹- هلمند ولایت	مرکز یې لښکر ګاه ښار

د مازیگر د لمانځه تر اداء کولو وروسته چې کله رحیم او هوسې د خپل کاکا له کوره خدای پامانې وکړه او خپل کورته روان شول، د خپل هیواد په هکله یې ډیر په زړه پورې معلومات د رلودل او داسې یې احساسوله چې دوی له خپل هیواد سره ډیره مینه لري، اوشیبه په شیبه یې په زړونو کې داتلوسه زیاتیدله چې کله به یې په هیواد کې سوله اوامن راشي چې هیواد وال یې له خپلو کورنیو سره په خوښۍ خپل هیواد ته ورستانه او دښه اوسوکاله ژوند خاوندان شي.

کیسې

نوم بدی ملګری

وایي چې په پخوا زمانو کې یوه ورځ د غلو یوې ډلې په دښته کې د کاروان لاره نیولې او د مسافرو مالونه او شتمنۍ یې لوټلې وې. کله چې خبر ښارته ورسید، حاکم حکم وکړ، یولوی لښکر تیارشو اود هغې لویې دښتې، چې دا پیښه پکې شوې وه، شاوخوا یې محاصره او د تګ راتګ لارې وتړل شوې. ورو ورویې د محاصرې کړۍ را تنګه کړه او هر تلونکې راتلونکی یې تر نظر لاندې ونیو، تر څو چې دغوندیو د مینځ په یوه سمځه کې یې غله ونیول اولاس تړلي یې حاکم ته راوستل.

حاکم قاضي ته وویل: «خلک خبر کړئ او غله د خلکو په مخکې ښکاره محاکمه کړئ. که د هغوی په مینځ کې کوم بې ګناه وي، معلوم یې کړئ، نورو ګناهګارو ته سخته سزا ورکړئ او خبریې ټولو ځایونو ته ورسوئ، چې بیا نور څوک داسې کار ونه کړي او ټولې لارې د تل له پاره په امن کې وي.»

قاضي غله يو يو محاکمه کړ، هر يو د غله خپل ځان بې ګناه ګانه او ډول ډول بهانې به يې جوړولې. خو د کاروان مالونه يې پخپل مينځ کې ويشلي وو، هر يو د له هغو مالونو څخه يو څه درلودل، نوځکه هيڅا نشو کولی چې پر ځای عذر وړاندې کړي، نو اړشول اعتراف وکړي چې غلا ئ اولا روهنه يې دنده ده. خو په دوی کې يو تن داسې و چې تر ډيره يې خپله ګناه نه منله او ويل يې: «زه له دوی (غلو) څخه نه يم اونه مې غلا دنده ده. زه شاعر يم، ليکوال يم، انځورګر يم او هنرمند، داچې خپلې بدمرغۍ له دې ډلې سره ملګری کړی يم، تاسې بايد ما د دوی له ډلې څخه ونه شميرئ».

يو له بلاغت او فصاحت څخه ډک ليک يې د حاکم په نوم وليکه، چې ځای په ځای يې پکې حديثونه، شعرونه او حکايتونه راوړي وو. او په ليک کې يې د شکايت په توګه ليکلي وو چې: «قاضي زما خبره نه مني، او له ماسره له عدل او انصاف څخه کار نه اخلي، زه غل نه يم، د پوهانو او هنرمندانو له ډلې څخه يم، حاکم بايد زما کار ته پاملرنه وکړي.»

دليک دې خبرو پر حاکم ډيره اغيزه وکړه، هغه

ځوان یې خپلې مخې ته راوغوښت، ورته یې وویل: « ډیر ښه لیک دې لیکلی و ،چې ستا علم او پوهه ورځخه پوره څرګندیدله، ووایه څه وایې ؟ »

ویې ویل: « زه غل نه یم، نوځکه خپل ځان د سزا مستحق نه ګڼم. »

حاکم پوښتنه وکړه: « چې غل نه یې نو ولې دغلو ملګری وې ؟ »

ویې ویل: « مادوی نه پیژندل اونه یې په کار وبار پوهیدلم. دوی ته مې خدمت کاوه او اجوره مې ترلا سه کوله. حساب مې لیکه، کتابونه به مې لوستل، وعظ او نصیحت به مې کاوه. »

پوښتنه یې وکړه :« نو قاضي پکې څه وایي ؟ »

ویې ویل: « هغه ما هم د غلو ملګری ګڼي، عرض ته مې پاملرنه، نه کوي او عُذر مې هیڅ هم نه منې. »

حاکم امروکړ چې: « دا ځوان زما په مخ کې محاکمه کړئ. »

قاضي د حاکم په مخ کې د هغه محاکمه له سره پیل کړه، له ځوان ځخه یې وپوښتل: « ته پوهیدې که نه چې دوی غله دي ؟ »

ده وویل:« زه نه پوهیدم ،او له هغه وخت نه راپه دې خوا چې دوی کاروان ووهه، زه پوه شوم او ددې ډلې په ملګرتیا پښیمانه وم. »

قاضي وويل: « ډير ښه، دانه وايم چې ورسره ناسته ولاړه او ملګرتيا د همکارۍ دليل نه دی، ولې څنګه دا د غلا جامې چې دې اغوستي دي، پرې خجالته نه وې؟ » ويې ويل: « راضي پرې نه وم، ډير شرميدلم، خوچاره مې نه وه. »

پوښتنه يې وکړه: « ښه، څومره وخت وشو چې دی نااهلو کاروان لوټلی دی؟ »

ويې ويل: « دوه مياشتې به کيږي. »

پوښتنه يې وکړه: « هغه ځای چې دوی کاروان وواهه، چيرې دی؟ »

ويې ويل: « د دښتې په فلانۍ کنده، د فلاني ښار او آبادۍ تر مينځ په لار کې. »

قاضي پوښتنه وکړه: « آيا کولی شې چې د دغو لارو نقشه د کاغذ په مخ وکاږئ چې له موږ سره په لار پيژندنه کې مرسته وکړئ؟ »

ويې ويل: « ولې نشم کولی. زه دغه لارې د لاس دورغوي په شان پيژنم او په رسم کې خو هيڅوک زما په شان استاد نشته. »

قاضي وويل: « آيا کولی شې داسې شعر جوړ کړې چې په

هغې کې د غلو له ډلې څخه د خپلې پښیمانۍ څرګندونه وکړې؟»

ویې ویل: «ولې نشم کولی. کلمې زما په لاس کې دموم په څیر نرمې دي او کولی شم چې په خپل یو شعر یود لویه هنګامه جوړه کړم.»

قاضي وویل: «بارک الله! آیا کولی شې چې یود کیسه ولیکې او په هغې کې د کاروان له خلکو سره د دغو غلو چلن اوسلوک، د مسافرو ویره، ډار او خبرې اترې، لیدلې اوریدلې حالت انځور اوځرګند کړې؟»

ویې ویل: «څنګه به یې ونشم کولی، د کاروان د خلکو ویره اوډار، عُذر، زارۍ او د دغو غلو بې رحمي پخپله یود له سوزه ډکه کیسه ده.»

قاضي وویل: «آفرین پرتا، خو داراته ووایه، دې غلو څه ډول ژوند کاوه چې هیڅا دوی نه پیژندل؟ آیا په دغه موده کې د دې کاروان له غړو (خلکو) نه پرته کوم چوپان (شپون)، د لارې مسافر، په دښتو کې ګرځندونکی، بزګریا د دې ځای کوم اوسیدونکی د دې غلود ځای په شاوخوا کې نه لیدل کیده؟»

وې ویل: «مګر دې غلو خوله دغه ډول خلکو سره څه کار نه درلود او دغوخلکو هم داغله عادي لارويو مسافر ګڼل.»

قاضي وويل: «په دې ترتيب، تاچې داغله پيژندلي، په خپل کارهم پښيمانه اوخجالته وې، ددغه دوه مياشتو په موده کې، چې د شاوخوا خلکو سره دې ليدلی اوکتلی هم شول اود غلو بندي هم نه وې، کولې دې شول چې د غلو د ځای ځايګي نقشه وکاږې يا د غلو کيسه وليکې. تانو ولې داغله رسوانه کړل او د هغوی خبر دې د لارويانو غوږونوته ونه رساوه؟ ولې ورځخه رابيل اوترې ونه تښتيدې؟»

ويې ويل: «البته په همدې فکروم، خولاس مې بر نه شو.»

قاضي وويل: «آيا په دې وخت کې دې کوم شعرنه دی جوړکړی؟»

ويې ويل: «ولې نه، يو شعر مې جوړکړی دی.»

قاضي وويل: «ويې وايه.»

ځوان هغه خپله جوړه کړې غزل واورووله.

قاضي، حاکم ته وويل: «ماته ثابته اومعلومه شوه چې دی هم د دې نورو په شان غل دی اوګناه يې له دې نورو ځخه زياته ده، داځکه چې دی نه پوهيده او بيا هم له دوی سره شريک اوهمکارو. دا شعر يې هم سراسر له بې دردۍ اوبې پروايۍ ځخه حکايت کوي. په شعر، کيسه او د ژبې په فصاحت اودوينا په لوړه

معنا یې باید تیرنه وځو، ځکه چې له غلو سره د ناستې، ولاړې او ملګرتیا څخه پښیمانه، نه دی. که داغل نه وای له غلو سره به یې ناسته ولاړه نه درلوده او که پښیمانه وای، له نیول کیدود مخه به یې د غزل په ځای یود شکایت نامه جوړه کړې وای. ونه له میوې څخه پیژندل کیږي، بې معنا اوناوړه انسان د هغه له کارنه. او هغه څوک چې له بد کارو اوناوړه خلکو سره کینې پاڅي، ورڅخه راضي وي، د هغوی ملګری اومرستندوی دی. که چیرې دی د هغوله کارد خوښ اوراضي نه وای، ان تردې که چیرې د هغوی په لاس بندي هم وای، کولی یې شول چې کوم چوپان، دهقان اویا بل لاروي ته ددوی رازښکاره کړي. له هغوسره ناسته ولاړه یې هم یو ښه دلیل دی.»

ځوان وویل: «ماخوددوی په شان د چاله تن څخه جامې نه دي ایستلي.»

قاضي وویل: «هغه دې نه شول کولی، خود غلا دجامو له اغوستلو څخه دې هم ډډه اوپرهیز نه دی کړی.»

ځوان وویل: «زه د زړه نه له هغوی سره نه وم.»

وېې ویل: «درواغ وایې.»

ځوان وویل: «توبه کاږم.»

قاضي وويل: « اوس نوچارد نه لري. توبه خوله رسوايي څخه ډمخه ده، له نيول کيدو څخه وروسته، خو ټول توبه گار کيږي. »

ويې ويل: « ته له ماسره قصد لرې اونه غواړې چې زه له سزا نه وبخښل شم. »

قاضي وويل: « هماغه قصد او غرض درسره لرم چې له دې نورو غلو سره يې لرم. »

حاکم وويل: « داسې بنکاري چې داهم محکوم دی. يوازينی شی چې له دې نورو غلو څخه يې زيات لري تيزه ژبه (ژبه وري) او هوښياري ده. افسوس پر دغې هوښياری چې په کړه او بده لاره کارول کيږي، که چيرې دا په سمه لاره کارول شوی وای ډېر ښه او لوړ مقام ته به رسيدلی وای.

نتيجه:

د ملګرو او دوستانو په انتخاب او له نورو سره په ناسته ولاړه کې بايد له ډير غور څخه کار واخيستل شي، ځکه چې د ښو اغيزه ښه او بدو بده وي. که ډير ښه نيک شخص هم وي خو چې له بدانو او ناوړه خلکو سره ملګرتيا کوي پر ده يې هم نيغ په نيغه اغيزه کيږي او د هغو له ډلې څخه شميرل کيږي.

میـــږی اوسره مچی

وایـي څو میږیانو په یـوه ډرنګ او کنډواله کور کې ځاله درلوده اوله ډیرې مودې راهیسې یې پکې ژوند کاوه. یوه ورځ څو غټې سرې مچۍ هـم هغه ځای ته راغلې او د دیوال په یوه سوري کې یې ځاله جوړه کړه.

میـــږي اوســرې مـچۍ هـر یـو پـخـپل ژونـد چـارو اوکارونـو بـوخت وو.

د مـیږیـانـو شـمـېر ډیـر زیـات و. پـلـرونـو ،مـیـنـدو ، هلکانواونجونو ، لمسیـو ، کړوسیـواونبیرې په یوه لویه کږه وږه ځاله کې ژوند کاوه. اوهمـــاغسې چـــې د میږو دود دستوردی ، په اوړي کې به په باغـــونـــو ، دښتو او شاوخوا کې خپریدل ، له سهاره ترماښامه به یې دانـــې راټـولولې اوزیرمه کولې او په ژمي کې به یې استراحت کاوه.

یوه ورځ یوه سره مچۍ پر دیوال ناسته او د میږیانو نندارە یې کولـه. ویې لیدل چې یوه میږي یوه دانـه وچ توت نـیـولی او

غواړي چې خپلې ځالې ته يې راوړي. خو اچې زور يې پرې نه رسيده، څو ځله يې هغه د توتوت دانه پورته د ديوال پرمخ تر يوې اندازې رسوله او بيا به بيرته ښکته ځمکې ته پريوتله، تر څو چې په پای کې په خپل هوډ بريالی شو. د توت دانه يې د ديوال سرته پورته کړه، او ترځنګ يې ودريد. له ډيرې ستړياځخه يې د آه غږ وکړ، ويې ويل: «آخ خدايه! ستړی شوم.»

سرد مچی چې د ميږي صبر او حوصلې ته ډير حيرانه شوې وه، له خپل ځايه راوالوته، راغله او د ميږي ترځنګ کيناسته، ويې ويل: «ستړی مه شې! پوهيږې چې مور ستاسې ګاونډيان يو؟ مور هم د همدې ديوال په درز کې ځاله لرو.»

ميږي وويل: «مننه کوم، هو، پوهيږم، خو هرڅوک په خپل ژوند او کار بوخت دی.» سرې مچی وويل: «هو، همدا ژونددی، خو داڅه کاردی چې تاسې يې کوئ؟»

ميږي وويل: «کوم کار؟ مور څه کارکوو؟»

سرې مچی وويل: «ستاسو کار دادی چې ټول کال له هغه ځايه او دغه ځايه د خوراکې له پاره دانې اوشيان را پيدا کوئ، په ډير زيار اوکړاو يې کورته راوړئ اوزيرمه کوئ يې، او زه دې ته هم حيرانه يم چې دا تاسو په دې وړه ګيډه ، چې لرئ يې، څومره ډير حريص او طمع کوونکي ياست.»

میرۍ وویل: « نه پوهیږم چې ته څه وایې، پرته له دې کار نه چې مورۍ یې کوو، کوم بل کار هم شته. مورۍ په اوړې کار کوو او په ژمي کې په خپلو ځالو کې بې غمه استراحت کوو او له خپلې زیرمې اوسپما څخه یې خورو. خو تاسې مچۍ څه کار کوئ؟ »

سرې مچۍ وویل: « مورۍ هیڅ وخت د دانې راوښکلو او زیرمه کولو زحمت او کړاو ځانته نه ورکوو. مورۍ داوړي په فصل کې د هر ښه خواړه خوړو او د مړه خوړو چې بیا ټول ژمی پرې مارد یو، ویدد کیږو، تر هغه چې بیرته اوړی شي »

میرۍ وویل: « د هر ښه، تاسې هغسې یاست مورۍ د غسې، ټول باید یو ډول نه وي، هر څوک ځانګړې سلیقه لري او د ژوند بیله لاره او دود یې وي. تاسې زیار او زحمت نه ګالئ، د خلکو مال خورئ، خلک ستاسې د لاسه په آرام نه دي. ټول په تاسو بد وایي، خو زمورۍ روزي حلاله ده. د دښتو له دانو، له توی شویو شیانو او د حیواناتو او الوتونکو له پاتې شونې خوراکي څخه د خلکو له کار سره کار نه لرو. »

سرې مچۍ وویل: « دا د کمزورو خلکو خبرې دي، چې د تاسو خپل زړه خوشحاله کوئ، چې میرۍ یاست، بې آزاره یاست او خلک موستاینه کوي. خو تاسې د ژوند په هکله په هیڅ نه

PROPERTY OF ACKU 9684

یاست پوهیدلي، تاسې هیڅکله د قصاب د دوکان غوښه نه دد خوړلې اونه موراغوړند انگور څکلي دي. یود ورځ مو ژوند پورد کیږي اومړئ. خو له ژوند څخه موهیڅ خوند نه وي اخیستی. خوکه مور مړد هم شو د هیڅ ارمان موپه زړه نه دی پاتې. هم موددنیا عیش عشرت کړی او هم موله دښمن څخه غچ اوبدل اخیستی دی، زمور د ژوند یود ورځ ستاسې له سل کاله عمر څخه غوره دد.»

میږي وویل: «تاسو د قصاب د دوکان غوښه هم خورئ؟»

سړې مچې وویل: «هو! که نه یې خبر، راځه له ماسره ولاړ شه، تر څو وویني چې مور څه کارونه کوو.»

میږي وویل: زه خو نشم کولای چې له تاسره والوزم، که ته ربنتیا واېې نن مې له ځان سره بوځه، چې هم یې نندارد وکړم اوهم یې چل زده کړم.»

مغروړې مچې چې غوښتل یې میږي ته خپل ویاړونه اوکارنامې وښیي، هغه یې پخپلو منگولوکې ونیو او د قصابې دوکان ته نږدې یې پرځمکه کوزکړ، ورته یې وویل: «ته دلته اوسه او زما نندارد کوه!»

مچۍ پورته شوه ، په الوتلو د قصاب د کان ته ورغله او د پسه د لم پر هغه توټه کیناسته چې د دوکان مخې ته غوړنده وه. قصاب راغی چې غوښه راواخلي ، مچۍ وویریده ، پورته شوه او پاس والوتله او د غوښې پر یوې توټې کیناسته. داچې قصاب د مچیو له جنجال نه تر پوزې راغلی او تنګ شوی و ، ساطوریې پورته کړاو پر غوښې ناستو مچیو باندې یې ګوزار وکړ ، څومچۍ یې ووهلې او نیم ژوانديې ښکته پر ځمکه راپریوتې ، چې یوه پکې هغه د میرۍ ګاونډۍ مچې هم وه.

په دغه وخت کې میرۍ ، چې تردې مهاله یې نندارې کوله ، ورو ، ورو د دوکان مخې ته راغی ،خپله ملګرې مچۍ یې ومونډله او ورته یې وویل: «دې بر تأسف کوم چې مور میرۍ دغسې ژوند ، چې هره شیبه پکې ځان له خطر سره مخامخ وي ، نه خوښوو ،مګر داچې په کار کې کوم ستر اومهم هدف نغښتی وي » خوداچې مچۍ مړه وه ،هیڅ ځواب یې ورنه کړ.

میرۍ هغه مچۍ له پښې نه راونیوله او په راښکلو ، راښکلو یې د خپلې ځالې خواته یوړه او پر هماغه دیوال یې پورته کړه او د هغه وچ توت خواته یې کیښوده ، نور میریان یې خبر کړل

او ورته يې وويل: « راشئ ددې مچۍ بدن هم توتې توتې او سړه جلا کړئ، زهر يې وغورځوئ، غوښه يې ځالې ته يوسئ، په ژمي کې به مو په درد وخوري. »

نتيجه:

لټې، تنبلي، په زور زياتي د خلکو مال خوړل او بيځايه غرور نه يوازې دا چې يو ډير ناوړه کار دی، بلکې انسان له ډول ډول ستونزو او ان دا چې له مرګ او هلاکت سره مخامخ کوي. خو د حلالې روزی له پاره زيار او زحمت ګالل، کمينې، حلم، کوښښ، هڅې او هلې ځلې د نيکمرغۍ او سوکالۍ سبب ګرځي.

اوسپنه خوړونکی موړک

په پخوا زمانو کې چې سوداګرانو به پخپله د جنس داخیستلو له پاره نورو هیوادونو اوښارونو ته سفر کاوه، یو سوداګر چې لږ د پانګه یې لرله، غوښتل یې د ما لونو رانیولو له پاره کومې خواته سفر وکړي، خومخکې له دې چې په سفر ولاړشي، داهوډ یې وکړچې د احتیاط له پاره خپله څه پانګه په هیواد کې پریږدي چې که خدای مه کړه څه مال یې پر لارد کې غله لوټ کړي، نو چې راځي بیرته، دلته په هیواد کې هم څه پانګه ولري.

څرنګه چې هغه په دې نه پوهیده چې سفر به یې څومره اوږدشي، او دا فکر یې هم کاوه چې له بل چاسره د نقدو پیسو امانت اینبودل هم خطر لري، نو یې سل منه اوسپنه واخیستله او د خپل یودوست په کور کې یې امانت کینبودله، چې کله له سفرنه راستون شي ورڅخه به یې بیرته واخلي. سوداګر له ځان سره فکر کاوه چې اوسپنه له دې امله هم ښه ده چې وزن یې زیات اوبیه یې

تیته ده ، څوک یې نه غلا کوي ، نه هم د ټوکر په شان سوزي او نه لکه د خوراکي شیانو په څیر خوساکیږي ، ماتیږي هم نه اوزړیږي هم نه او څرنګه چې د خپل دوست په دینداری او امانتداری باور و ، داخیال او نظر یې په فکر سم و .

اوسپنه یې د خپل دوست په کور کې کیښودله ، له کوره یې خدای په امانی واخیسته او ولاړ . سفر یې یو کال اوږد شو ، کله چې بیرته راوګرځید ، هغه نورشیان او جنسونه یې هم چې له ځان سره راوړي وو ، ښه بازار یې نه درلود او چانه اخیستل . او داچې داوسپنې بیه ډیره لوړه شوې وه ، نو فکر یې وکړ چې لومړی باید هغه اوسپنه چې د خپل دوست په کور کې یې امانت ایښې ده ، خرڅه کړي ، تر څو چې د ډې نورو جنسونو بازار یې لږ ښه شي .

سوداګر د خپلې امانت ایښې اوسپنې د ترلاسه کولو لپاره د خپل دوست کور ته ورغی . خو هغه دوست یې ورسره لا د مخه د خیانت په فکر کې و . اوسپنه یې لا مخکې ترمخکې له کوره لرې په یوخوندي ځای کې پټه ایښې وه او غوښتل یې چې سوداګر ته یې له ورکولو څخه غاړه وغړوي . سوداګر چې هلته ولاړ ، له سلام او احوال پوښتنې څخه وروسته یې وویل : « راغلی یم چې هغه خپله اوسپنه یوسم . »

هغه دوست یې هغه ته لومړی ډېر ښه هر کلی ووایه، خپل کورته یې دننه کړ، هلته یې ورته وویل: « ګرانه دوسته! ډېر افسوس کوم، خو اصلي حقیقت دادی چې ستا امانت اوسپنه مې د انبار د خونې په یوه کونج کې اینبې ود، خونې ته مې کولپ هم اچولی و او د هغې له خوندې ساتنې څخه ښه ډاډه وم، یوه ورځ چې زه د څه کار له پاره د انبار خونې ته ورننوتم، نو خبر شوم چې په دغه خونه کې یو مورک هم و، داچې ډېره موده د انبار د خونې دروازه ټرلې او څوک هلته نه ورتلل، مورک هم وخت غنیمت ګڼلی او په دغه موده کې یې ټوله اوسپنه خوړلې وه. ما له دې امله ډېر افسوس وکړ او خواشینی شوم، خو هیڅ مې نشو کولی او کومه چاره مې نه لیدله. زه تاسو ته ډېر خجالت یم چې په دې حال مو خبروم. »

سوداګر پوه شو چې دوست او ملګری یې غواړي خپل ترسره کړي خیانت ته یوه بهانه پلمه جوړه کړي. هغه فکر وکړ چې له دغسې بد ذاته او بې همته سړي سره د حساب او کتاب خبرې هیڅ ګټه نه لري. باید، چې په څه چل پرې اقرار وکړي. له همدې امله یې کوښښ وکړ چې خپل قهر او غوسه په ډیره سړه سینه وزغمي. نو خپله حوصله یې برابره کړه، او په نرمه لهجه یې ځواب

ورکړ: « رښتیا وایې ،ما هم اوریدلي دي چې د مور کانو اوسپنه ډیره خوښیږي اوپه هر ځای کې چې دانرمه اوگرمه مړۍ پیدا کړي ،په ډیره مینه یې خوري. دې کې ستاسې هیڅ ګناه او قصور نشته. دا خو زما ګناه ده چې اوسپنه مې اخیستله او د مور کانو فکر مې نه کاوه. »

خاین ملګري او دوست چې د سوداګر دا ځواب و اورید ، ډیر خوشحاله شو ، له ځان سره یې وویل: « دې بې عقله خو رښتیا هم د مور ک په کیسه باور وکړ ، او سپنه مې خپله کړه ، راځه چې د یوې شپې میلمستیا بلنه ورکړم ، تر څو چې نومورې ته مې کلکه دوستي ثابته شي او که په زړه کې څه شک ورغلی وي ، چې هغه هم له مینځه ولاړشي. » نو سوداګر دوست ته یې په ټینګه وویل: « دا ډیره مودده وشوده چې سره نه مودي لیدلي ، هیله کوم چې همدانن شپه زما میلمه شې. »

سوداګر وویل: « ستاسې له مهربانۍ څخه ډیره منه کوم ، نن شپه یو ډیر ضروري کار لرم ، سبا غرمه به دې خامخا میلمه شم. »

له هغه سره یې په ډیره مینه د خدای په امانۍ لاس ورکړ او ورڅخه رخصت شو. کله چې له کوره راووت د دروازې ترڅنګ یې

دهغه دوست ما شوم زوی په لوبو بوخت و ، هغه یې په غیږ کې وینو او خپل کورته یې راوست. خپلې میرمنې ته یې وسپارد چې داماشوم ترسبا شپې پورې په ډیرې مهربانۍ وساتـه. سبا چې غرمه نږدې شود ، سوداګرد خپل دوست کورته ورغی.

د کور خاوند چې د خپل ماشوم زوی د ورکیدلو له املـه ډیر خواشینی او اندیښمن شوی و ، سوداګر تـه یې عذر وکړ ، ویې ویل: « ګرانه میلمه! زما عذر ومنه ، څرنګه چې پرون مې کوچنی زوی ورک شوی دی ، اوله تیرې شپې نه مې تراوسه پورې ورپسې دا ټول ښار لټولی دی ، خو هیڅ پته یې راتـه ونه لګیده ، دا چې ډیر پریشانه او سرګردانه یم ، ستا میلمه پالنه نشم کولی. »

سوداګر ورته وویل: آیا ستا ماشوم هلک نه و ؟

- د کور خاوند وویل: هو، ؤ.

- کمیس یې لیکې لیکې اوتور واسکټ یې په غاړه نه و ؟ تیله دارد خولۍ یې په سر نه ود ؟

هو، هو، همداسې ود .

تور پرتوګ او بوټان یې په پښونه وو ؟

د کور خاوند په ډیرې بې صبرۍ وویل: « هو، همداسې وو ، لکه ته چې یې وایې. چیرې دې هغه ولید ؟ »

سوداگر وویل: «پرون چې زه ستاله کورډ ووتم، کله چې د کوڅې سرته ورسیدم ومې لیدل چې یو تور کارغه په همدې نښو نښانو یوهلک په خپلو پنجو کې ونیو او والوت. زه فکر کوم چې هغه کارغه په پنجو کې نیولی هلک به ستا زوی و...»

د کور خاوند په ډیره قهریدلې لهجه پرې غږ کړ: «ای لیونیه او ناپوهه! ته داسې ناشونې او محال خبرې څله کوې؟ دا څنګه په خپل دومره لویوالي داسې بې سره او بې کرور درواغ وایې؟ د کارغه خو خپل ټول وزن یویادو د کیلو دي، هغه به څنګه داسې هلک چې لس دولس کیلو وزن لري، هوا ته په پنجو کې پورته کړي، دا څه ګډې وډې خبرې کوې؟»

سوداګر ځواب ورکړ: «دا خوزما په نظر کومه د حیرانتیا خبره نه ده، په هغه ښار کې چې یو مورک سل منه اوسپنه وخوري، کارغه یې هم کولی شي چې ماشوم په پنجو کې هوا ته پورته کړي.»

د کور خاوند ته ددې خبرې په اوریدو معلومه شوه چې خبره په څه کې ده، کار همدې سوداګر کړی او ده درواغ ته یې بنه غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ، نو یو ژورتکان یې وخوړ، پخپلو کړو پیښیمانه شو، او خپل سوداګر دوست ته یې وویل: «پوه

شوم، پوه شوم، ای ورود! ستا او سپنه مورۍ نه دد خوړلی، ورشه زوی مې راوله او خپله اوسپنه دې یوسه! »

میلمه ځواب ورکړ: « زه هم پوه شوی یم چې کارغه دې زوی نه دی وړی، اوسپنه مې راکړه او زوی دې واخله. او په دې هم پوه شه چې ستا درواغ له مانه لوی او سخت وو، ځکه تا غوښتل چې خیانت وکړې او زما حق وخورې، خو ما چې دا بد کار وکړ او ته مې یوه شپه او ورځ نا آرامه کړې، دا یوازې دد ې له پاره و چې غوښتل مې په دې وسیله له تا څخه خپل حق ترلاسه کړم. »

نتیجه:

دا کیسه مورۍ ته رابنیي چې په امانت کې خیانت کول ډیر ناوړه کار دی،نه یوازې دا چې د امانت خیانت کوونکی ګناهګار اود قیامت په ورځ د خپل ناوړه عمل په سزارسیږي، په دنیا کې هم دا بد عمل د شخص تولنیز اعتبار، او د دوستۍ او خپلوی هر ډول اړیکې ختموي او نتیجه یې سخته پښیمانې او خجالت دی.

نـــيـا

آيا تاسې ته مو خپله نيا ګرانه دده؟ معلومه خبره چې ګرانه به وي. خو ماته مې خپله نيا ډيره ګرانه ده. او بايد چې راته ګرانه او قدرمنه وي. هغه پر ما ډېره مهربانه ده. غواړم چې د خپلې نيا يوه کيسه تاسو ته وکړم. ډېر هلکان چې زما په عمر دي، خپله نيا ورته ګرانه وي، مثلاً حميد کلوله، چې زمونږ د ټولګي د فوټبال په ټيم کې هم شامل دی، يوه ورځ يې ماته وويل:

- پوهيږې مختاره! چې ماته مې خپله نيا ډېره ګرانه ده، ومې پوښتل چې ولې درته خپله نيا ګرانه ده؟ هغه په داسې حال کې چې موسکا يې پر شونډو خپره وه، وويل:

- «ددې لـــه پاره چـــې نيا مې د بلا سپرده، هر کله چې زه شوخي کوم او پلار مې په غوســـه کـــيږي، په مـــا پسې کمربند رااخلـي، زه په منـــډه ځم او دنيـــا تر څنګه مې کښيـــنم، هغه مې د پلار له وهلو ټکولو خلاصوي.»

یو بل هم صنفي لرم چې سید صفدر شاد نومیږي، خو په کور کې یې قند آغا بولي، یوه ورځ یې راته وویل چې نیایې ورته ډیره ګرانه ده. کله چې ماله هغه څخه دګرانښت دلیل وپوښتو ویې ویل:

«پوهیږې، که چېرې نیا مې نه وای، زه به له ډېرو ښو خوړو څخه بې برخې وم. ځکه چې تل له کوره بهر په فوټبال کې یم، له هغو خوړو څخه چې زمونږ د کورنۍ نورغړي یې خوري، نیا مې زما برخه بیلوي، په یو خوندي ځای کې یې راته ساتي، کله چې زه کورته ځم، نیا مې ورو راته غږ کوي: واخله، وخوره!»

هو، ملګرو او دوستانو، نیا رښتیا هم پر لمسیانو ډېره مهربانه او زړه سواندې وي، جرابې او بې، دستکشې او بې، او خواړه ورکوي. خو ما خپله نیاډیر نازوي او تر ټولو ښه لا دا چې خوږې خوږې کیسې هم راته وایي.

ماته مې خپله نیا له دې امله هم ګرانه ده، خو ځینې نور علتونه هم شته: سږ کال چې دا دی زه په اووم ټولګي کې یم، یوه کیسه مې د ماشومانو په مجله کې چاپ او خپره شوه. دې کیسې مې د کیسه لیکنې په مسابقه کې جایزه هم واخیستله. اوس په ښوونځي کې دومره مشهور شوی یم چې څومره پوهیږئ، خو دا

ټول بریالیتوبونه مې د خپلې نیالې برکته دي، او زه باید داکیسه له هغه وخته تاسوته وکړم چې په ځلورم ټولګي کې وم.

کله چې زه په ځلورم ټولګي کې وم، او د فوټبال لوبه مو وبایلله، ټولو هلکانو ددې کار پړه او ملامتیا زما پر غاړه واچوله، زه په غوسه شوم او د فوټبال له ټیم څخه ووتلم، املاء او انشاء مې ډېره خرابه وده. هره ورځ به ښوونکي راته غوسه کوله. زه په دې ډېر رنځیدلم، یوه ورځ مې د ماشومانو مجله لوستله، یوه ډیره ښکلې لنډکۍ مقاله پکې چاپ شوې وه. ما ورځخه هغه مقاله په خپل قلم راولیکله، د نیا خواته مې ولاړم او ورته مې وویل:

«نیا جانې! یوه مقاله مې لیکلې، غواړې چې درته ویې لولم؟»

هغې چې جاکټ اوبده، ویې ویل: «شاباس ویې لوله!»

ما هغه لیکنه لوستله او هغې راته غږ نیولی و. په سترګو کې یې د ډیرې خوښۍ اوښکې ځلېدلې. د لیکنې تر لوستلو وروسته یې زه ښکل کړم، اوویې ویل: «څومره ښه دې لیکلې، سبا یوه کیسه ولیکه او ماته یې ولوله. ماته له ځان سره د هغې په خوش باورۍ خندا راتلله، خو هغې چې زما کومه ستاینه او صفت وکړ، هغه مې ډېر خوښ شو. نورو به په ما پورې خندل، هیڅ

اهمیت به یې نه راکاوه، خو نیا به مې ډیر نازولم او هڅولوم. په بله ورځ مې د ماشومانو له مجلې څخه یو د کیسه ولیکله او هغې ته مې واوروله. دنیا مې بیا له ډیر خوښې نه په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، راته یې وویل: «ته نابغه یې.»

پورته یو کال مې همدغه کار وکړ، مجلې به مې لوستلې، کیسې او یا نورې لیکنې به مې ترې لیکلې او خپل یوازینۍ اوریدونکې (نیا) ته به مې اورولې. عجیبه خبره خو لا داوده چې د کال په پای کې مې د ژبې او ادبیاتو په مضمون کې ډیرې لوړې نومرې واخیستلې. په شپږم ټولګي کې مې هم همدا کار و، چې نیا به مې ولیدلم، راته به یې ویل: «مختار جانه! نن دې زماله پاره کیسه لیکلې؟»

اوما به سمدلاسه هماغه کیسه چې له مجلې به مې رانقل کړې وه، لوستله.

د شپږم ټولګي په پای کې مې هم ډیرې لوړې نومرې د ژبې په قرائت او ادبیاتو کې واخیستلې او په ټولګي کې د ادبیاتو په مضمون کې له ټولو زده کوونکو څخه لوړ ګنډل کیدلم.

یو ورځ مې له ځان سره تصمیم ونیو چې پخپله یو د کیسه ولیکم او هغه کار وکړم چې دو د کاله د مخه مې ډیر مشکل او نه کیدونکی ګانه. کښیناستم او یو د کیسه مې ولیکله.

ددې کیسې موضوع مې هم پخپله تاکلې وه. هغه مې په صحیح او ښکلو جملو ولیکله او بیا مې خپلې نیاته واوروله.

نیا مې په ډیر دقت او غور راته وکتل، داځل مې له نور کله څخه زیاته رینبتینې موسکا د هغې په شونډو ولیدله، زد یې پرمخ ښکل کړم او راته یې وویل:

«ډېر ښه شی چې تراوسه دې لیکلی، همدادی» وجدان مې راویښ شو، او له ځانه سره مې وویل چې ولې دې تراوسه دې پاک زړې ښځې ته فریب او دوکه ورکړې ده. ومې غوښتل چې نن رښتیا رښتیا ورته ووایم، نو په ډیر ادب مې ورته وویل:

«نیا جانې! پوهیږې دا دومره کیسې او لیکنې چې له نن څخه دمخه مې درته لوستلې دي ټولې د نورو وې او هغه مې له مجلو څخه کاپي کړې وې. ما وبخښه چې تراوسه مې تاته دروغ ویلي دي.»

هغې په شونډو کې وموسل، ویې ویل:

«بچیه! زه نه پوهیدلم، کومې مقالې او لیکنې چې ته یې ماته اوروې، ستانه دي، او اوس هم په دې وپوهیدم چې دا لیکنه ستا خپله ده.» په حیرانتیا سره مې وپوښتل: چې ته مخکې پوهیدلې، نو بیا دې ولې راته څه نه ویل؟ ولې دې زه تشویق او هڅولم؟ نیا مې راته وویل:

«ددې له پاره، که څوک غواړي چې شاعر او یا لیکوال شي، باید ډیر ولولي او د لیکلو ډیر مشق او تمرین وکړي، د نورو آثار باید ډیر ولولی. زه په دې پوهیدلم چې په دې کار ته له ادبیاتو او د نورو له آثارو سره آشنا کیږي.»

زه د هغې ددې خبرو په اوریدو غلی پاتې شوم، څه مې په ذهن کې وگرځیدل، ومې ویل: خو نیا جانې تاسو دا فکر نه کاوه چې په دې شکل زه له دروغو سره عادت کیږم. په دې باب مو اندیښنه او فکر نه کاوه؟

نیا مې وخندل او په ورین تندي یې وویل:

«په دې باب له ماسره هیڅ اندیښنه او ډار نه و، ځکه زه په دې ښه پوهیدلم چې د ادبیاتو مطالعه ستا په وړاندې د حقیقتونو دروازې پرانیزي. ادبیات انسان اصلاح کوي، له غلطیو یې ژغوري، ادبیات انسان لوړتیا او کمال ته رسوي، زه پوهیدلم چې د مطالعې په نتیجه کې به ټولې بدۍ او غلطۍ درته پخپله څرگندې شي او پخپله به هر څه ته متوجه شې.»

وینئ چې زما نیا جانه څومره هوښیاره ده. په هر څه پوهیږي. اوس نو تاسې وایاست زه داحق لرم چې نیا مې باید راته ډیر گرانه وي او که نه؟

نتيجه:

دنيا ، کيسه مورته داثر گندوي چې کوښښ او هڅه انسان ته د هرکار کولو وړتيا او پوهه بخښي.

که چيرې د ماشومانو کار ، هڅې او کوښښ د مشرانو له خوا په مناسبه توگه وهڅول (تشويق) شي ، د يرې ښې او په زړه پورې نتيجې ورڅخه ترلاسه کيږي او هغه ښه زيار کښ او کار کوونکې روزي.

ترانې او شعرونه

د پوهنې ترانه

د جهل دوره تیره شوه د اعصر د عرفان دی
بې علمه ژوندون ګران دی

په حق پسې روان یو
د علم پتنګان یو
د جهل دښمنان یو

لښکرد معارف یو، لور زمور نام اونښان دی
بې علمه ژوندون ګران دی

په زده کړه او ښوونه
د حق کوو پالنه
د خپل هیواد روزنه

زمور ګرانه وطنه د امو عهد او پیمان دی
بې علمه ژوندون ګران دی

روان مخ په رڼا یو
مین په اعتلا یو
د هر مرض دوا یو

په لور د ترقی ځو رهنما زمور قرآن دی
بې علمه ژوندون ګران دی

سوله او ژوند

جنګ په هر څه شي خزان دی
سوله مینه ده، جانان دی
جنګ ورانې او تباهي ده
سوله شته دي آرامي ده
ماشومان خو سوله غواړي
ټول په سوله باندې ویاړي
مور پلار ګران په ماشومانو
په ښایسته ښکلو ګلانو
سوله پوهه ده حکمت دی
سوله پت دی او عزت دی
مورږ د سولې پلویان یو
د هر جنګ سره وران یو
افغانان دي سره ورونه
خیر که بیل بیل دي قومونه
ټول دیوه هیواد اولاد دي
غم یو غم په ښادۍ ښاد دي
جنګ تیاره ده تباهي ده
سوله ژوند دی آبادي ده
ورک دې جنګ او جنګ غوښتونکي
تل ژوندي سوله غوښتونکي

د خدای نعمتونه

بخښلي دي رب مور ته
بې شميره نعمتونه

دا سترګې يې ليدولې
غوږونه اوريدولې
دا پښې يې ګرځيدولې
دا عقل پوهيدولې

بخښلي دي رب مور ته
بې شميره نعمتونه

دالمريې ځليدولې
داستوري پرقيدولې
دا اوريې بليدولې
باران يې وريدولې

بخښلي دي رب مور ته
بې شميره نعمتونه

اوبه يې زمور څښتوله
جامې يې اغوستوله
گلونه رنگينوله
دابوتې يې مېوولې

بخښلي دي رب مور ته
بې شميرد نعمتونه

داځمکه اوسيدوله
داشپه ويدد کيدوله
نومونه پيژندوله
ژوندون يې تيريدوله

بخښلي دي رب مور ته
بې شميرد نعمتونه

زه چې کله ځوان شمه

زه چې کله ځوان شمه
مېربه د کاروان شمه
خپل بیرغ به پورته کړم
خوربه په جهان شمه
زار به له وطنه شم
زار به له وطنه شم
دنګ به ورله سر کړمه
تن به ورله غر کړمه
څوک چې ورته ګوري سپک
زه به یې کور ورکر کړمه
زار به له وطنه شم
زار به له وطنه شم

دی به بې مثال کړمه
لور به يې په کمال کړمه
زد به د محنت په زور
دی د جهان سيال کړمه
زار به له وطنه شم
زار به له وطنه شم
کړم به د چمن په سر
واريې د دښمن په سر
وخت که تقاضا وکړد
ږدم به زد کفن په سر
زار به له وطنه شم
زار به له وطنه شم

پاکوالی

تندرسته پاک انسان دی
پاکوالی نیم ایمان دی
له هر یو کارنه مخکې
د لاسو پاکول ښه وي
اوپس له هر یو کار د هم
بیا د واړه لاسه وینځل ښه وي
تندرسته پاک انسان دی
پاکوالی نیم ایمان دی
له هر خوراک نه وړاندې
د خولې کنګالول ښه وي
اوپس له هر خوراکه بیا
د خولې صفا کول ښه وی
تندرسته پاک انسان دی
پاکوالی نیم ایمان دی

په ورځ کې خامخا یو ځل
په هر موسم لمبل ښه وي
په شپه ورځ کې دود ځله
غاښونه برس کول ښه وي
تندرسته پاک انسان دی
پاکوالی نیم ایمان دی
پښې آبله ګرځیدلونه
پیزار په پښو کول ښه وي
اوهر رنګه جامې مدام
ښې پاکې اغوستل ښه وي
تندرسته پاک انسان دی
پاکوالی نیم ایمان دی
په ورځ کې دود یادري ځله
ویښته ږمنځول ښه وي
اوود ورځو کې یو ځله
نوکونه پریکول ښه وي
تندرسته پاک انسان دی
پاکوالی نیم ایمان دی

همدغسې خپل کور کلی
ستر د اوپاک ساتل ښه وي
د شاوخوانه هر قسم
ګندونه لرکول ښه وي
تندرسته پاک انسان دی
پاکوالی نیم ایمان دی

لوبې

لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دی
چې ورکړي لوبو له وخت
نو صحت مند هغه وي
په صحت مند وجود کې
ښه صحت مند ماغز د وي
لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دی

د هر انسان وجود کې
لویه جذبه پیدا کړي
هم د تکلیف زغملو
ښه حوصله پیدا کړي
لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دی
هم کړي په ژوند کې خلک
مقابلې ته تیار
هم په ازمینښت کې ښه نیغ
هم کشالې ته تیار
لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دی
په یو ژوندي اولس کې
لوبې د ژوند نښې دي
ځکه د لوی وړو
د هر یو تن خوښې دي
لوبې صحت له ښې وي
لوبو له وخت پکار دی

الله دي پيدا کړي

بنايسته بنايسته ګلونه
خواږه پکې رنګونه
وږمې د پسرلي وي
دا هار تاوده بادونه

دا چادي پيدا کړي
وايه چادي پيدا کړي؟
الله دي پيدا کړی
دا الله دي پيدا کړي

داشنه شنه چمنونه
ولاړ بنکلي فصلونه
دا رنګ په رنګ ميوې او
جدا پکې خوندونه

دا چادي پيدا کړي
وايه چادي پيدا کړي؟
الله دي پيدا کړي
دا الله دي پيدا کړي

بې مثله دریابونه
خوړونه ،ابشارونه
رنې رنې چینې او
خواږه واړه سیندونه

دا چادي پیدا کړي
وایه چادي پیدا کړي؟
الله دي پیدا کړي
دا الله دي پیدا کړي

سحر او مابنامونه
د شپې ورځې وختونه
غرمه مازیګری او
دا میاشتې او کلونه

دا چادي پیدا کړي
وایه چادي پیدا کړي؟
الله دي پیدا کړي
دا الله دي پیدا کړي

دا ځمکه آسمانونه
دا دواړه جهانونه
پکې زمور د له پاره
بې شميره نعمتونه

دا چادي پيدا کړي
وايه چادي پيدا کړي؟
الله دي پيدا کړي
دا الله دي پيدا کړي

متلونه

متل څه ته وايي؟

متل هغه لنډه جمله يا عبارت دی چې د يوې انساني تجربې او مشاهدې بيان يکې په ډېره په زړه پورې، ښکلې بڼه او انداز کې شوی وي.

د متل عبارت ساده اوروان وي، خو ډېره ستره اوژوره معنا او مفهوم يکې پټ وي. دا د انسانانو د مغزونو خبرې دي چې د دوی د ټولنيز ژوند له پخو تجربو څخه راز ېږيدلې دي.

متلونه د يوې ژبې داولسي او شفاهي ادبياتو ستره او ارزښتناکه برخه ده، اصلي جوړونکي او رامينځ ته کوونکي يې هم نه دي معلوم، د ټول اولس ګډ مال دی. هر متل تر شا په خپل پس منظر کې يوه پېښه، کيسه، او د ژوند پخه تجربه لري چې د هغې نتيجه او نچوړ د پند او عبرت له پاره خوله، په خوله له يو نسل څخه بل نسل ته ليږدېدلی او د کانې کرښې ګرځيدلی

دی، نوځکه یې خلک په خبرو اترو کې د خپلې وینا د منطقي او باوري کولو له پاره استعمالوي.

ځینې متلونه په نظم وي، چې وزن او قافیه لري، او ځینې بیا په نثروي، چې د وزن او قافیې له قیدنه خلاص وي، خو دواړه د ولونه د پوره فصاحت او بلاغت نه برخمن وي.

د یادونې وړ ده چې زمونږ زیاتره پخوانیو شاعرانو پخپلو شعرونو کې د شعري قوت د لوړتیا له پاره متلونه راوړي او د ځینو مشهورو شاعرانو د شعرونو ځینې بیتونه او یا نیم بیتي په خلکو کې د متلونو په بڼه استعمالیږي.

که څه هم متلونه په کوچنیانو او ځوانانو پورې خاصه اړه نه لري، خو د یوې ژبې هرویونکی باید د متلونو لږه یا ډیره زیرمه په خپل ذهن کې ولري او د استعمال ځای یې هم بڼه وپیژني چې د اړتیا په وخت کې یې په مناسبه توګه استعمال او خپلې وینا ته وربانديې خوند، رنګ، پوخوالی او کړه والی و بښي. د همدې مقصد، غرض او اهمیت په پاملرنې مونږ دلته یو شمیر متلونه، د هغوی دلنډ مقصد او مفهوم له ښودلو سره راوړو چې له دې لارې خپلو لوستونکو سره مرسته وکړو:

۱ - زړه طمعه - ته بې غمه.

- دا متل هله استعمالیږي چې یو څوک له چاسره د څه شي وعده وکړي او بیا یې هیڅ د سرته رسولو په فکر کې هم نه وي.

۲ - صبر تریخ دی، خو میوه یې خوږه ده.

- مطلب دا چې صبر مشکل او له ستونزو ډک کار دی، خو نتیجه یې ښه او غوره راوځي، یعنې په هر حال کې بې صبري نه ده پکار.

۳ - د کور گټه - د لاهور گټه.

- پخپل کور او چاپیریال کې د ننه لږ گټه او امکانات د بل ځای (د بهر) له ډیرې گټې څخه ښه او غوره دي.

٤ - اوبه په ډانگ نه بلیږي.

- خپل خپلوان، قوم، اولس او دیو ملت وګړي څوک په زور او جبر یو له بل څخه نه شي بیلولي او که په عارضي ډول دیوڅه وخت سره بیل هم شي، بیرته یو ځای کیږي.

۵ - پردی کټ تر نیمو شپو وي.

- پردی مرسته او ښیګڼه د خپل مقصد او غرض له مخې د یو مؤقت وخت له پاره وي، یعنې تل نه وي، زړه تړل پرې نه دي په کار.

۶- د تورې پرهر به جوړشي، خو د ژبې نه جوړيږي.

- د تورې په وسيله غوڅ شوی ځای په دارو درملو جوړيږي، خو د ژبې ګوزاريا پيغور او بده خبره چې يو ځل د يوه له خوا بل ته وشي، هغه بيا هيڅکله د چا له زړه نه وځي.

۷- رښتيا ترخه وي، خو ميوه يې خوږه وي.

- رښتيا خبره چې چا ته کوې په هغه شيبه کې پرې سخته او بده لګيږي، خو بيا وروسته يې نتيجه او آينده ښه وي.

۸- ورک شه هغه غوږي - چې سر وخوري د سړي.

- هغه شتمني او نعمت دې ورک شي چې انسان ته د سر په بدل ها په ډير خطر سره لاس ته ورځي.

۹- د ډيرو امسا، ديوه سړي ګيډی.

- که ډير وګړی له چا سره لږ لږ مرسته هم وکړي، د هغه شخص، چې مرسته ورسره شوې وي، پوره او تر ډيره وخته ګوزاره پرې کيږي.

۱۰- پنځه واړه ګوتې، خدای (ج) نه دي برابرې کړي.

- مفهوم او مطلب يې دا دی چې انسانان په علم، پوهه او نورو ډيرو شيانو کې يوله بل نه توپير لري اولکه څنګه چې خدای (ج) پنځه ګوتې يوه له بلې څخه لويه، وړه ها لنډه او اوږده پيدا کړې دي، دغسې يې خلک هم په لږو ډير توپير پيدا کړي دي.

۱۱- عقل په ډیرو تکرو زده کیږي.

-عقل او پوهه چاته وړیا په لاس نه ورځي او له ډیر زیاز، زحمت نه وروسته تر لاسه کیږي.

۱۲- علت ځي، عادت نه ځي.

- که د چا یو څه روغتیایي ستونزه او نیمګړتیاوي د هغې علاج په درملو سره کیږي، خو د انسان خوی، خصلت او عادت په آسانۍ سره نه بدلیږي.

۱۳- په مرګ یې ونیسه، په درد خپله راضي کیږي.

که یو څوک د لویې تنګسې او سختې په زغملو راونیسې، د لږې زغملو ته پخپله غاړه ږدي ،یا چې د ډیر تاوان منلو ته یې راونیسي لږ په آسانه او خپله خوښه مني.

۱٤- له کلي ووځه ، خوله نرخه مه وځه.

- کلی، کور او سیمه پریږدد، خو له خپل ولسي رسم رواج او عنعناتو څخه غاړه مه غړوده.

۱۵- وروري به کوو، خو حساب کتاب یې تر مینځه.

- وروری یا خپلوي خپل ځای لري، خو چې حساب کتاب په مینځ کې وي ډېر غوره کار دی او هیڅکله پرې د وروری یا خپلوی اړیکې نه خرابیږي.

١٦- چې لاس مات شي، نو خپلې غاړې ته راځي.

- چې په چاسخته او تکليف راشي، خامخا خپلو خپلوانو ته مراجعه کوي او له هغوی نه مرسته غواړي يا ورتر غاړې کيږي.

١٧- روغ صورت، ټوله پاچاهي دده.

- چې د انسان بدن روغ وي، دا هغه ته له هرڅه څخه غوره دي.

١٨- په زور کلي نه کيږي.

-هيڅوک نشي کولی چې په زور زياتي سره خلک د ټل له پاره خپل تابع کړي.

١٩- هر چا ته خپل هيواد کشمير دی.

-هر چا ته خپل هيواد ښه، ښکلی او د نورو له هيواد څخه غوره دی.

٢٠- غم او ښادي خور او ورور دي.

- غم او ښادي سره ملګري دي، که نن په چا غم وی ورپسې (بله ورځ) به پرې خوشحالي راشي. انسان بايد په غم کې صبر وکړي او په ډير سړه سينه يې وزغمي.

٢١- له پروت زمري څخه ګرځنده ګيدړ ښه دی.

- مطلب دا چې کار او فعاليت غوره، لټي او تنبلي يو ناوړه کار دی.

٢٢- چې په طمع د سپروشي- هغه پاتې په میروشي.

- څوک چې د بل چا په طمع خپل کارونه پریږدي، هغه په نیمه لار کې پاتې کیږي او هیڅکله نشي بریالی کیدای.

٢٣- چې بل ته کوهي کني، خپله به پکې پریوځي.

- څوک چې بل ته نیت بدوي او غواړي چې له زیان او مشکلاتو سره یې مخ کړي، پخپله به له هغه حالت او زیان سره مخامخ شي.

٢٤- که شپه تیار ده، نو مني په شمار دي.

- مطلب دا چې په هر ډول حالت او شرایطو کې په حساب کتاب او قضاوت کې باید له پورته انصاف څخه کار واخیستل شي.

٢٥- ځمکه هغه سوزي چې اور پرې بل وي.

- د غم، تکلیف، ستونزو، درد او کړاو زور هغه چا ته معلومیږي چې ورباندې وي.

٢٦- له یوه لاسه تک نه خیږي.

- په یوازې ځان څوک لوی او مهم کارونه نه شي ترسره کولی، خامخا د نورو ټولنیزې مرستې ته اړ دی.

٢٧- راست اوسه - په لویه لار کې ملاست اوسه.

- که څوک ربنتینی وي، د هغه به غاړه تل هسکه او څوک ورته زیان نشي رسولی.

٢٨- په پردي لاس مارهم مه وژنه.

- انسان بايد کوښښ وکړي چې خپل کارونه پخپله وکړي، نه چې د نورو په طمعه او هيله يې پريږدي.

٢٩- کارغه د زرکې مزل کاوه خپل يې هير شو.

- څوک چې په پټو ستر گو د نورو پيښې کوي او ورپسې روان وي، خپل عقل او فکر په کار نه اچوي، هغه هغسې چې مناسب دی نه شي زده کولی، خو خپل خدای ورکړی استعداد ونه يې له منځه ځي، يا بيکاره کيږي.

٣٠- که بل ووهې په لته - تابه وولي په ګټه.

- که بل چاته لږ زيان ورسوې، هغه به تاته ډير زيان درورسوي.

٣١- پيشو هيڅکله د خدای له پاره مورک نه نيسي.

- هيڅوک له چا سره ښيګڼه او مرسته بې له کوم غرض او مقصد څخه نه کوي.

٣٢- د ګونګي په ژبه يې خپله مور پوهيږي.

- هرچاته خپل مشکل او تکليف تر نورو ښه معلوم وي.

٣٣- غر په غر نه ورځي، خو بنده په بنده پيښيږي.

-انسان خامخا يوه ورځ د کوم کار له پاره بل

تـــه اړکـــيږي او مجبـــوريـــږي چې پخپل کارکـــې له نورو څخه مادي يامعنوي مرسته وغواړي.

٣٤- په يو لاس کې دوه هندوانې نه نيول کيږي.

- په يو وخت کې دوه کاره نه ترسره کيږي، چې يو سر ته رسوې بل درڅخه خامخا پاتې کيږي.

٣٥- په يو د څيړ د سل مخونه خوړيږي.

-انسانان يو له بل سره اړيکي لري، او که څوک چا ته څه تکليف رسوي، له هغوی سره نور ډير اړيکې لرونکي (خپلوان او دوستان) يې هم پرې خوابدي کيږي.

٣٦- تشه لاسه ته مې دښمن يې.

- زياتره خپله بې وسي او بيوزلي انسان له ښيګڼو او ډيرو امتيازاتو نه بې برخې کوي.

٣٧- خپله لاسه - ګله لاسه.

هر کار چې څوک پخپله ترسره کړي د بل چاله ترسره کولو څخه ډير غوره او ښه دی، يعنې پخپل ځان بايد تکيه ولرو.

٣٨- بنده په خپل وس پر دی.

-انسان بايد د هر څه تر لاسه کولو له پاره د خپل وس او طاقت سره سم هلې ځلې او کوښښ وکړي.

٣٩- څوک يې په کلي کې نه پريږدي، وايي چې آس مې د ملک کړ وتړئ.

- څوک يې په هيڅ نه حسابوي، خو د ته د خپل غرور له مخې ځان ډير لوړ، منلی او ښاغلی ښکاري.

٤٠- زد په تا ـ او ته خطا.

- چې څوک چا ته طمع لري، پرې ډاډ د وي، خو هغه يې هيڅ پروانه لري.

٤١- که زد وايم زد يم او ته وايې چې زد يم- نه به ته يې، نه به زد يم.

خو که زد ووايم چې ته يې او ته ووايې چې ته يې- هم به ته يې هم به زد يم.

- انسانان بايد له ځان غوښتنې تير شی او يو د بل قدر او درنښت وکړي، په دې به د هر چا عزت اوپت خوندي وي.

٤٢- اصيل ته اشارت، کم اصل ته کوتک.

- هوښيار او معقول شخص په ډير اسانه پوهيدلی شي، خو ناپوه په آسانه نه پوهيږي، بايددزور له لارې وپوهول شي.

٤٣- دخوږ کانې به وروست نه شي- دښمن به دوست نه شي.

- دښمن هيڅکله د چانه دوست کيږي، باور پرې نه دی په کار.

٤٤- چې دښمن په شا تومري، زهروته حاجت نشته.

- چې يو کار په ښه سلوک او خوږو خبرو کيږي، قهر، غوسې او ستوغې وينا ته هيڅ اړتيا نشته.

٤٥- که غر اوچت دی، پر سريې لاره ده.

- هر مشکل که هغه ډير لوی هم وي، د حل يوه لاره لري.

٤٦- د دروا غو مزل لنډ وي.

- دروا غجن ژر او خامخا رسوا کيږی، يا دروا غ تر ډير وخت پورې چلښت نشی موندلی.

٤٧- بې له چرګه به يې هم خدای سبا کړي.

- دا متل هله ويل کيږي چې کله څوک له چانه په کوم کار کې د مرستې هيله وکړي او هغه يې ترسره نه کړي، نو ورته د ګيلې په ډول وايي چې بې دستا له مرستې به هم خدای زما دا مشکل او ستونزه حل کړي.

٤٨- مال خپل ساته، ګاونډی غل مه نيسه.

- د خپل مال او حال ساتنه کوه، بې ځايه په نورو خلکو بدګومان مه کوه.

٤٩- چې زر پاک وي- له اوره يې څه باک وي.

- چې څوک پاک اوربښتينی وي، هغه په هيڅ وخت او حالت کې نه ډاريږي يا د چا پروانه کوي.

٥٠- په ښو تلوار ،په بدو کې تأمل (ځنډ).

- هر ښه کار په بېړه او چټکۍ سرد کوه او د بدو اوناوړه په مقابل کې ښه فکر او غور کوه، ناوړه عواقب يې سنجوه.

٥١- ستر ګې په ښونه درنيږي.

- څوک چې د چاډير درنښت او لحاظ کوي او هره خبره يې په سر ستر ګومني، نويې ورته وايي.

٥٢- اول يې زده کړه- بيا کوژده کړه.

- يو کار لومړی زده کوه، له زده کړې او تجربې وروسته يې بيا په ډاډه زړه ترسره کوه.

٥٣- غل هم وايي چې خدای يو دی، مل هم وايي چې خدای يو دی.

- هغه وخت ويل کيږي چې سم او ناسم، پرله اوور نه معلوميږي، او هر يو خپله بې ګناهي ثابتول غواړي.

٥٤- چې شپه يې ترمنيځ وي، له هغې بلا څخه مه ډاريږه.

- د اوس غم کوه، د راتلونکې په باب ډيره انديښنه مه کوه.

٥٥- د ګور شپه نه په کور کيږي.

- هغه څه چې په تقدير کې يې انسان ته ليکلې وي، هغه نه بدليږي.

٥٦- چې سر ژوندی وي، خولې ډیرې دي.

- کله چې چاته څه لږ و ډیر مالي زیان ورسیږي، نو نور خلک ورته د تسلیت په ډول وایي: هیڅ فکر مه کوه چې ته ژوندی یې نو داسې ډیر مال به وګټې.

٥٧- بد به دې په زړه لرم- سلام به دې په خوله لرم.

- مطلب دا چې ستا بد مې هیڅکله له زړه نه، نه اوځي، خو د دود دستور له مخې درسره خبرې اترې اوراشه درشه کوم.

٥٨- له پردې زویه خپله لور ښه ده.

- له ډیر وښو غورده شیانو او امکاناتو څخه چې د بل چاوي، خپل نیمګړي اولږ ښه دي، خو چې د سړي په خپل واک او اختیار کې وي.

٥٩- ونې ته ختلې نشو، ویل یې انګور ترودي.

- چې چاته څه شي په لاس نه ورځي، نو بیا د هغه شي بد وایي (غندنه یې کوي)

٦٠- زړه په زړه آئینه دی.

- مطلب چې څوک چاته ښه نیت لري او په درنښت ورته ګوري، نو هغه بل یې هم په درنښت یادوي او په ښه نیت یې هرکلی کوي.

٦١- ما لاس درکړ، تا رانه په مړوند کې غوڅ کړ.

- دا متل هغه وخت ویل کیږي چې څوک چا ته د یوشي واک او اختیار ورکړي او هغه له ډیرې بې انصافۍ څخه کار واخلي.

٦٢- چې خوب کوي ـ مینبې یې نرکتې زیږوي.

- څوک چې غفلت اوبې پروایي کوي هغه خپل مطلوب هدف ته بریالی نه رسیږي.

٦٣- ډبره چې پرخپل ځای پرته وي، نو درنه وي.

- د هر چا درونده والی او عزت په خپل کور، کورنۍ، سیمه او هیواد کې وي، چې له دغو چوکاټونو بهرشي، هغه خپل اصلي قدر او عزت یې نه پاتې کیږي.

٦٤- چې اوښان ساتي دروازې به لوړې وږدي.

- څوک چې یو کار کوي د هغه ټول عواقب باید وسنجوي او مخکې تر مخکې یې باید د هغې له پاره لازم تدبیر کړی وي.

٦٥- د کوهي خاوره بیرته په کوهي لګیږي.

- دا متل هله ویل کیږي څوک چې په یو کار او روزګار کې سپمانه شي کولی او چې څه ګټي هغه خوري.

٦٦- شل وږي ته پشا شو، د دواړو ساه وختله.

- یو مصیبت ځپلی له بل مصیبت ځپلي سره مرسته نشي کولی او د هغه بار په خپلو اوږو نشي وړلای.

٦٧- چې له کوم میلمه څخه نه خلاصیږي، نو دوه ځلي ورته ستړي مه شي وایه.

- چې له یو چا، یا له یوه کار څخه ځان نشي ژغورلی، نو له ناکامه یې په ورین تندي هر کلی کوه.

٦٨- که ما وپوښتې - نو ته به وتښتې.

- کله چې یو شخص بل ته خپلې ستونزې او مشکلات بیا نوي او هغه هم دې ورته مشکلات لري، نو ورته د تسلیت په توګه وایي چې که ته زماله حال خبر شې نو خپل به دې هیر شي.

٦٩- کور بار ترمنزله نه رسیږي.

- څوک چې چل او دوکه کوي (خلک تیرباسي) هغه د تل له پاره په خلکو کې هسکه غاړه نشي اوسیدلی او یوه ورځ به خامخا له شرم او رسوایۍ سره مخامخ کیږي.

٧٠- د لمدو خاورو لږې اوبه دارووي.

- دا متل هغه وخت ویل کیږي چې یو کار په لږ لګښت او زیار باندې ترسره کیږي او ډیره ستونزه او کړاو نه غواړي.

کیسې (اړونه)

کیسې څه ته وایې؟

کیسې، چې ځینې پښتانه یې «اړونه» اوځینې یې «تکونه» بولي، په دري کې «چیستان» او په عربي کې «لغز» ورته وایي.

کیسې یا اړونه داسې پیچلې جمله یادشعریوه یا څو مسرې وي چې پکې د یوشي پټ اړخونه، خاصیتونه، ځانګړتیاوې، او نښې نښانې د اشارو، کنایو، استعارو یا تشبیهاتو په ذریعه بیانیږي، او اوریدونکی کوښښ کوي چې د هغو په اوریدو سره اصلي شی وپیژني او نوم یې وښیي.

کیسې د ټولو، په ځانګړې توګه د ماشومانو د سرګرمۍ او بوختیدو لپاره یوه ښه وسیله ده. یوماشوم کیسې وایي اوبل مجبور دی چې ځواب یې ووایي او که ځواب ورنه کړي مسابقه یې باېللې ده.

کیسی یا اړونه په دوه ډوله دي: یو منظوم او بل منثور.

منظومې کیسې ساده اوروان شعر دی چې مطلب یکې په اشارو او کنایو ویل کیږي، د همدې کنایو او اشارو او غانګړنو څخه یې باید ځواب ترلاسه شي. دا کیسې زیاتره دوه مسریزبیت وي، ځینې یې درې مسرې، ځینې څلور او کله کله تر دې هم زیاتې وي.

کیسې ویلو په پخوا زمانو کې د هر پرمختګ کړی و، ځکه چې په هغو وختونو خلکو په عامه توګه د خپل مصروفیت او ساعت تیرۍ له پاره راډیو، تلویزیون او چاپي خپرونې (ورځپاڼې مجلې او کتابونه) او نور په واک کې نه درلودل، نو دا د بیکارۍ په وخت کې یوه ډیره په زړه پورې سرګرمي او بوختیا وه.

د یادونې وړ ده چې کیسې په شاعرۍ کې یو مشهور ادبي صنعت دی او زمونږ ډیرو کلاسیکو اوولسي شاعرانو په خپلو شعرونو کې له دې ادبي صنعت څخه کار اخیستی دی.

مونږ دلته د خپلو لوستونکو له پاره یو شمیر کیسې «اړونه» او د هغو ځوابونه را اخیستي دي:

* الوځي مرغه نه دی- بنکر لري غوایه نه دی-
باروړي سنډه نه دی. «ګونګټ»

* وچ کلک-له کولمو ډک. «کټ»

* آسمان لاندې آسمان باندې - آسمان پښې غورځو ي وړاندې . « ژرنده »

* بې ستنو کوټه - پکې پروت دی شهزاده . « قبر او مړی »

* بابا د ننه - ږیره یې بهر . « وږی »

* بند په بند - هر بند یې لري خوند . « گنی »

* په تاخچه کې دوه ها (هګۍ) دي - بې زړو بې بهادي « ستر ګې »

* هغه څه شی دی چې سیوري یې نشته . « لمر »

* په یورپ کې ځي آسمان ته - چارچاپیره ټول جهان ته « دستر ګو نظر »

* تشه ځي - ډکه راځي . « د اوبو بوقه یا ډولچه »

* تورتم تورد تیارد - تور ولاړ په تنارد - تور وباسي په لارد . « درنجو کښورد او سلایي »

* ټوله ورځ ګرځي، دشپې دیوې پښې ځای نیسي . « امسا »

ځي ځي مخ نه را اړوي . « اوبه »

چې شل ژبې لري او په ټولو جاسوسي کوي . « ږمنځ »

* چرګه د چرګو رو سره لاړه هندوستان ته بیا به راشي ماښام ته . « سپورمی - ستوری »

* چې زړ ځم دا راپسې دی . «سیوري»

* چې زړ ځم، دی پاتې کیږي. «د پنبوپل»

* څلور یې پنبې دي - بې شمیره یې کولمې دي. «کټ»

* خوري، خوري هیڅ نه مړیږي . «ژرنده»

* دورځې غلی پروت وي، خوراوتی یې کولمی وي-
جامې یې دښیښې وي- خوندونه یې د شپې وي . «لاټین»

* چې دود ومه په دې شومه - چې لږ وم رانژدې شومه.
«بودا - سپین ږیری»

* د هډوکو کوټه گی - پکې ناسته شهزادگی.
«ژبه»

* د ژوندي نه مړی پیدا کیږي، له مړي نه ژوندی. «هگۍ»

* دود خویندې په مینځ کې یې غر ولاړ.
«سترگې اوپوزه»

* زما یوشی دی - په ونه لیونی دی. «تبر»

* سرد یې قرقرد، په ډکي سور. «مرچکی»

* زما یو صندوق دی، چې نه کلپ اونه کلي لري. «قبر»

* زما پنځه گلونه دي، دود په لمر دي دریږ په سیوري.
«پنځه وخته لمونځ»

* سرد غوښه- په ځمکه ښخه. « ګاځره »

* سپین بابا ، سور یې پټکی. « تیلی »

* سپین سړی ، سور یې کفن ، خړیې قبر. « مومپلی »

* سل خولې لري - نه ګیډه نه کولې لري. « غلبیل »

* سپینه سپوږمی - په ملاسوری. « کونجکه »

* شپږ یې پونډی دي ، لکی ملاکې لري - دوه یې پښې دي ژوند هواکې لري. « تله »

* شپیلی ده دولس بنده - هر بند کې څلور بنده.

« کال - میاشتې - هفتې »

* شاد شړي ماشاد شړي - له پاسه ګوجر راغی تورد غواشړي. « زمنځ - سپږد »

* شپه او ورځ ګرځي ، دمه نه کوي. « ساعت »

* ښکته ځم پورته مې کاردی- دغونډی په سر انګار دی.

« چلم »

* غاښونه لري ، خوخوراک پرې نشي کولی. « زمنځ »

* لښته ده ، زرلښته ده - نه ماتیږی سخته ده. « مار »

* نه تیغ دی نه چاړه ده ، خامه غوښه ده تیزي لري- ښه تیره اغزي لري. « ژبه »

* چې حلالوم يې، ژړوي مې. «پياز»

* هغه کومه ونه دد چې لرګې پکې نشته. «کيله»

* يو دی، دوه کيدای نشي. «خدای پاک»

* يو قبر پکې ډير مړی پراته. «اور لګېت قوتی اواورتيلي»

* وړوکی خان، اوږده يې شمله. «ستن او تار»

* وړوکی ماماګی - په سر يې ښانکی. «ميخ»

* داوسپنی نه کلک دی - د ګل نه نازک دی. «انسان»

* ګرده وړه خونه - پکې ناسته دد زيتونه. «ژبه»

* شين څادر، په وينو رنګ. «د نکريزې پانې»

* شنه جامه او سپين غاښونه لري - سره بريتونه لري.
«د جواروورې»

* سور منګوتی، د ميوې ډک. «انار»

* د ورځې وي او د شپې نه وي. «لمر»

* پنځو راونيوله، دوه د يرشو ماته کړله.
«ګوتې، مړی او غاښونه»

غوره بوختیاوې (سرګرمۍ)

رسمونه د کلمو په غای

یوه ورځ د خپل په خوا روان و. هغه یوه اندازه

هم په یوې کې اخیستی وه.زوړ سړی ډیر ستړی شوی و

هیله یې کوله چې کاشکې یا او یا وای

ته رسیده. نیمې لارې نه ورسیدلی چې یو چې هغه به ژر او په آسانۍ

وار خطا شو او یې هغه ته ونیوله د بودا مخې ته ودریده او خپله

 پیدا شو. بل شی نه لرم. په همدې وخت کې یو ویې ویل: پرته له

په شان وتښتید. او بودا خپل ځان په سرویس کې سپریدلو کورته ورساوه. له ویرې د

گرانو ماشومانو!

اوس تاسې له دې لاندې شکلونو څخه په استفادې د (۷۶) مخ په څیر کښې ولیکئ. البته د خپل کتاب پاڼه بیاتي نه کړئ، بلکې لومړی رسمونه د کاغذ په مخ کاپی کړئ او بیا هغه بیل او په مناسبو ځایونو کې یې سرینبت کړئ.



خوږو ماشومانو!

په دې مخونو کې تاسې داسې شکلونه وینئ چې د ټکو (نقطو) په وسیله ښودل شوي دي. لومړی ټکي د شمیرو په ترتیب سره ونښلوئ او بیا شکلونه له خپلې خوښې سره سم رنګ کړئ.




٣٧
٣٨
٣٦
٣٣
٣٢
٣٩
٣٥
٣٤
٣١
٢١
٢٠
١٧
١٦
١٣
١٢
٢٢
١٩
١٨
١٥
١٤
١١
١٠
٣٠
٢٩
٢٣
٢٤
٢٧
٢٨
٢٥
٢٦
٥
٦
٩
٧


١
٤
٣
٢

څه شی له څه شي سره اړیکي لري؟

په کوچنیو چوکاټونو کې یو رسم او په لویو کې زیات رسمونه شته دي. د لوی چوکاټ هر شکل د کوچني چوکاټ له شکل سره ارتباط او اړیکه لري، هغه په نښه کړئ.



د رسمونو اندازه:

په کوچنيو چوکاټونو کې يو يو رسم او په لويو چوکاټونو کې څلور څلور رسمونه دي. هغه رسمونه چې په لويو چوکاټونو کې د کوچنيو چوکاټونو په اندازه دي، په نښه اورنګ يې کړئ.



نوم ليکل:

رسمونه په غور او دقت سره وگورئ او نومونه يې ترې لاندې وليکئ.



د متقاطع کلمو جدول

زیاتره خپرونې د خپلو سرګرمیو په مخ کې د معماوو جدولونه خپروي او د هغو د حل کوونکو له پاره د جایزو او سوغاتونو ژمنه (وعده) کوي. د ماشومانو خپرونې (مجلې او اخبارونه) هم د متقاطع کلموجدول لري، مګر ډیر کم لیدل شوي چې په کومې خپرونې کې د دغو جدولونو د حل د لارو او طریقو په هکله معلومات او لارښوونې وړاندې شوې وي.

موږ دلته په لنډه توګه ماشومانو اونویو ځوانانو ته د دغو جدولونو د حل په هکله یوڅو معلومات وړاندې کوو:

د معماووجدول ته له دې کبله د متقاطع کلمو جدول وایي چې په هغه کې د کلمو توري (حرفونه) یوله بله پرې (قطع) شوي او بیل بیل لیکل کیږي.

د دې ډول جدول له ځانګړتیاوو څخه یو دا دی چې د هغو د کلمو توري باید په دوو ردیفونو کې له بل توري سره داسې یو ځای (ترکیب) شي، چې له هغو له نه بیلې بیلې کلمې ترتیب شي.

د کلمو قطار یا څنګ په څنګ ردیف ته « افقي » وایي. هر یو قطار یې په ترتیب سره په شمیرو له یو څخه تر پای پورې مشخص کیږي. په دې ردیف کې توري یو د بل ترڅنګ لیکل کیږي او د پام وړ کلمه جوړوي.

د کلمو یو د بل لاندې قطار یا ردیف ته « عمودي » وایي. دغه ردیف هم په شمیرو سره مشخص اوښودل کیږي، په هغې کې توري یو د بل لاندې لیکل کیږي او پوښتل شوې کلمه جوړوي.

په جدول کې تورې خانې یو د بل نه د کلمود بیلو لوله پاره او د جدول د طرحې د کار د آسانۍ له پاره ایښودل کیږي. هغه څوک چې د جدول په طرح کې ډېر اوپوره مهارت ولري له دغو تورو خانو څخه ځینې کلمې یا نومونه په جدول کې لیکي او یا جدول په هغې سره ښه، غوره اوبا تناسبه کوي.

د معماوو د جدولونو طرح اوحل کول په اصل کې له کلمو سره لوبې کول دي. طرح کوونکی کوښښ کوي په جدول کې د ځای پرځای شویو بیلا بیلو کلمو د تشریح له پاره داسې جملې اوکلمې انتخاب کړي چې حل کوونکی له حیرانتیا سره مخامخ کړي او یا له هغې څخه لاره ورکه کړي.

د جدولونو حل کوونکي بايد تل دا يو ټکی په پام کې ولري چې جدول د کلمو د معنا او مفهوم له شکل او جوړښت سره سره کار لري. بايد چې ځوابونه د کلمو په لیکل شوي شکل کې ولټول شي او يا د هغې په لغوي معنا کې. د مثال په ډول: که د يوستون په شرح کې ليکل شوي وي« لکۍ پرې کړې غوا » او د جدول په مخ کې هم د هغې د ځواب له پاره دوه خانې پرېښودل شوې وي، حل کوونکی بايد دې ته ونه گوري چې خلک هغې غوا ته چې لکۍ يې پرې شوې وي، څه وايي، بلکې د« غوا » کلمې ليکنې ته دقت وکړي چې که له دې نه د لکۍ کلمه يا يې وروسته توری غوڅ کړای شي څه پاتې کيږي؟ البته چې« غو » او د غه لکۍ پرې کړې غوا د جدول په دوو خانو کې ليکل کيږي.

اويا: که چيرې پوښتنه شوې وي چې منځ خالي پنجره، د دې لټون بايد ونه کړو چې که په پنجره کې الوتونکی نه وي، هغې ته څه وايي، بلکې د پنجرې د مينځ کلمه يعنی« ج » لرې کړو او« پنره » په جدول کې وليکو.

د جدول د طرح او حل په کار کې سرچيه او معکوسې

کلمې او له هغې خوانه په دي مفهوم دي چې هماغه د پام وړ کلمه له پای نه د پیل (شروع) پرخوا ولیکو. مثلاً که ویل شوي وي چې «معکوس اوړه» باید هغه په جدول کې د «هړوا» په شکل ولیکو.

د نورو ژبو اصطلاحات راوړل هم د جدول په طرح کې رواج لري. مثلاً که چیرې پوښتنه شوې وي دري «غنم» باید په هغه ځای کې «گندم» ولیکل شي او یا که راغلي وي چې د انګلیسي «قلم»، حل کوونکی باید دا پیدا کړي چې قلم ته په انګلیسي کې څه وایي.

د متقاطع کلموجدولونو د کار ظرافتونه ډیر زیات دي، که مویوځل د هغې د طرح حل لاره اوطریقه زده کړه، تل به د خپرونود سرګرمۍ د مخونو د کتلو مینه وال او علاقمند اوسئ.

سرګرمي با جدولونه انسان دقیق، په ځیر کتونکی او حساس کوي او د لغتونو او اصطلاحاتو د زیرمې له زیاتوالي سره یې هم مرسته کوي.

اوس چې مود معماوو د جدولونو د طرح او حل په هکله څه نا څه معلومات تر لاسه کړل، دا لاندې دوه جدولونه حل کړئ.

لومړی نومره جدول:



د جدول شرحه:

افقي:

۱- زمورد هيواد پلازمينه - د کتابونو ځای.

۲- د يوې سيمې نوم - له غنمو څخه لاس ته راځي.

۳- مور - ښه نه - بې مفهومه کلمه.

٤- دوستي - اوږد غږ.

٥- قبول نه دی.

٦-...

۷- یو ولایت - د یو ولایت مرکز.

۸- غابښ (دري) - نیا.

عمودي:

۱- د گبرلکی ماته شوه - د ښه ضد.

۲- یو حرف او د ړې خانې، غاړه (دری)

۳- بې سره ابجد - مینځ خالي خود.

٤- کبر او غرور - مخ نه.

٥- ډ افغانستان خلک.

٦- وچه.

۷- ژرنه.

۸-...

۹- د راکړې ورکړې ځای - الله(ج)

۱۰- پیدا کول - شته.

۱۱- ماشوم - له هغه خوا نه بې.

۱۲- نهرین ته ندي رسیدلی - د زیري نیمایي.



دويم جدول شرحه:

افقي:

۱- د پښتو ژبې نازکخيال شاعر.

۲- د پرون او سبا ترمينځ - د ليکلو وسيله. - خوړل کيږي.

۳- ناروغ ته ورکول کيږي- د واک خاوند.

٤- د موسيقي ليک.

٥- ...

٦- د وزير د کار ځای - د اريک د ګرځنده کتابتونو نوم.

۷- مفرد يې زوی دی - لين ته نه دی رسيدلی - بارورونکي څاروی.

عمودي:

۱- د افغانستان يو لويديځ ولايت.

۲- نيم زاری.

۳- خپه - عربي مور.

٤- په انگريزي کې منډه (ځغاسته).

٥- لوړځای او منصب.

٦- پهلوان.

۷- سا - لاړشي.

۸- ...

۹- وران نه دی - نيم آبادي.

۱۰- نقشه او نمونه.

۱۱- په ډوډۍ ژبه راتلل (معکوس) - څيرد.

۱۲- دنيا نه - د افغانستان يو ختيځ ولايت.

د افغانستان جدول:

په دې مخ کې موستاسې له پاره د افغانستان يوه ښکلې نقشه چاپ کړې ده. د نقشې په مينځ کې سپينې خانې د جدول په بڼه ترتيب شوې دي. مور يوازې د جدول افقي او عمودي قطارونو ته شمېرې ورکړې دي. تاسې دغه جدول د نورو جدولونو په څېر د خپلې خوښې په کلمو ترتيب کړئ. کولی شئ ځينې خانې يې تورې کړئ. د جدول شرح مو وليکئ. له خپلې خور، ورور او يا له هم ټولگی (هم صنفي) څخه مو وغواړئ چې جدول حل کړي.



د متقاطع کلمو د جدولونو حل




١٢ ١١ ١٠ ٩ ٨ ٧ ٦ ٥ ٤ ٣ ٢ ١
١ د ن م و م د ی م ح
٢ ی د و د م ل ق ن ن
٣ ن م ک ا د ا و د ی
٤ ت ن خ م ق م
٥ ک ر
٦ ن م ک ا و ع ت و ا ز و
٧ ر خ ب ی ل ن م ا ز

مـأخـــذونه

١- پروفيسر داورخان داؤد، پښتو ادب کې متل، يونيورسټي بک ايجنسي، پيښور ١٩٩٠م.

٢- محمد شکيب صابر افضلي، ګلدسته اطفال، د اريک د ګرځنده کتابتونو اداره، پيښور، ١٣٨٠هـ.ش کال.

٣- پروفيسر داور خان داؤد، پښتو فولکلور کې اړ (چيستان) پيښور، ١٩٩٧م کال.

٤- د الفت مرغلرې (ګل پاچا الفت د اشعارو کليات) دانش خپرندويه ټولنه، پيښور، ١٣٧٥هـ.ش.

٥- ډاکټر جګړ، غلام جان شينواری، د ماشوم ترانې، دانش خپروندويه ټولنه، پيښور، ١٣٧٩هـ.ش کال.

٦- ډاکټر ديدار يوسفزی، ارغون زيری (دماشومانو نظمونه) د پښتو نخوا د پوهنې ديره، پيښور، ٢٠٠٠م کال.

د اریک د گرځنده کتابتونو نو د اداری خپاره شوی کتابونه

۱- د افغانستان عمومی جغرافیه
۲- جغرافیای عمومی افغانستان
۳- د افغانستان تاریخی ودانی
٤- بناهای تاریخی افغانستان
٥- د افغانستان محلی خواړه
٦- ورزشهای محلی افغانستان
۷- سپینه کوتره
۸- کمان طلایی
۹- زده کړه چی ورزده کړو!
۱۰- بیا موزیم تا بیاموزانیم!
۱۱- په افغانستان کی د چاپیریال ساتنه
۱۲- حفاظت محیط زیست در افغانستان
۱۳- په افغانستان کې د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
۱٤- تربیه و تهیه، بذرق و باغها در افغانستان
۱٥- د تمدن سوغات
۱٦- ارمغان تمدن
۱۷- زلزله در افغانستان
۱۸- په افغانستان کې زلزلی
۱۹- معیوبین و جامعه
۲۰- معیوبین او تولنه
۲۱- د افغانستان لنډکی تاریخ
۲۲- تاریخ فشرده، افغانستان
۲۳- د چرګانو ساتنه او پالنه
۲٤- مرغداری
۲٥- دنیای کودک
۲٦- د ماشوم نړی
۲۷- نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
۲۸- د افغانستان اقتصادی حالت نه پوه کتنه
۲۹- د شاتو مچیو روزنه
۳۰- زنبور داری
۳۱- دافغانستان مشاهیر
۳۲- مشاهیر افغانستان
۳۳- دافغانستان کلک پوستې میوې
۳٤- میوه های سخت پوست افغانستان
۳٥- جغرافیاې ولایات افغانستان
۳٦- دافغانستان د ولایتونو جغرافیه
۳۷- تکنالوژی بایوګاز
۳۸- دبایوګاز تکنالوژي
۳۹- پرخوری یا خود خوري
٤۰- ډیر خوراکی
٤۱- بازی های عامیانه اطفال
٤۲- دماشومانو لسې لوبې
٤۳-٤٤- لندې ها
٤٥- رهنمای تشخیص وتداوی امراض چشم، گوش، گلو وبینی
٤٦- دسترګو، غوږ، ستوني او پزې ناروغیو د تشخیص او درملنې لارښود.
٤۷- سرګرمی با تجربه های علمی
٤۸- په عملي تجربو سره وخت تیروول
٤۹- په افغانستان کې کانې زیرمې
٥۰- ذخایر معدنی افغانستان
٥۱- اساسات ماهی پروری
٥۲- د کبانو د روزلو لارښونې
٥۳- اوبه د ژوند سرچینه
٥٤- آب سرچشمه، حیات
٥٥- تدبیر منزل
٥٦- د کور سمبالښت
٥۷- سبزی ها
٥۸- سابه
٥۹- دافغانستان مشاهیر (دریم توک)
٦۰- مشاهیر افغانستان (جلد دوم)
٦۱- توصیه های مفید برای انکشاف باغداری در افغانستان
٦۲- په افغانستان کې د باغونو پرمختګ په هکله ګټوري لارښوني
٦۳- شاهراه های افغانستان
٦٤- د افغانستان لوي لاري
٦٥- ورزش
٦٦- ورزش (پښتو)
٦۷- تاریخ مختصر وسایل اطلاعات جمعی در افغانستان
٦۸- په افغانستان کې د ډله ایزو اړیکو وسایلو لنډ تاریخ
٦۹- سیمای محیط زیست افغانستان
۷۰- د افغانستان د چاپیریال بنه
۷۱- اقتصاد
۷۲- اقتصاد (پشتو)
۷۳- تخنیک ابتدایی رادیو
۷٤- د رادیو لومړنی تخنیک
۷٥- د افغانستان مشاهیر (دریم توک)
۷٦- مشاهیر افغانستان (جلد سوم)
۷۷- دانستی های مالداری و وترنری
۷۸- د وترنری او مالداری په هکله لارښوني
۷۹- صنایع دستی افغانستان
۸۰- د افغانستان لسې صنایع
۸۱- هرات در دوره، تیموری ها
۸۲- هرات د تیموریانو په دوره کې
۸۳- نباتات صنعتی
۸٤- صنعتي بوټي
۸٥- جهان نما
۸٦- نړی بنود

محمد رفیع د غلام فاروق خان زوی په ۱۳۵۱هـ.ش کال د لوګر د ولایت د محمد آغه په ولسوالۍ کې سترګې نړۍ ته پرانیستي دي.

زده کړې:

د هرات ولایت د خواجه محمد تاکی ښوونځی، د رحمن مینې ښوونځی، په کابل کې د شاه شهید (رح) د لومړۍ برخې ښوونځی او د هجرت په چاپیریال (پیښور) کې د مجاهد لیسه او د سید جمال الدین افغان لیسه (۱۳۷۲هـ.ش).

دندې:

په پیښور کې د افغانستان د اسلامي دولت په فرهنګي نماینده ګۍ کې د خبرونو د ثبت او خپرولو مسؤول (۱۳۷۲-۱۳۷۵هـ.ش) له ۱۳۷۵هـ.ش (۱۹۹۶م) کال څخه تر اوسه پورې د افغانانو له پاره د مرستو د انسجام د دفتر (اکبر) د نشراتي او اطلاعاتي منابعو د مرکز د اریک د ګرځنده کتابتونونو د پروګرام مسوول او د اډیتوري بورډ غړی.

آثار:

د افغانستان مشاهیر (دویم او دریم ټوک) ژباړه، همدا کتاب (د ماشومانو ګل غونچه) او له مطبوعاتو سره همکاري.

د اریک د ګرځنده کتابتونونو د خپرونو لړی
پرله پسې نومره ۸۸